د افغانستان بانک

# کلنی
# سالانه راپور

# ۱۳۹۱



د افغانستان بانک

# کلنی
# سالانه راپور

# ۱۳۹۱

**د افغانستان بانک کلنی راپور**

د اسناد او اړیکو عمومي آمریت

د خپرونو مدیریت

چمتو کوونکی: عبداللطیف بایاني

ایدیټر: شفیق الله بارز او یما عفیف

عکس: زیرک ملیا

ژباړه: عین الله عیان

ډیزاین: خالد احمد فیضي

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

ټلیفون: ۲۱۰۳۸۱۵- ۲۱۰۴۳۶۱- ۰۲۰

برېښنا لیک: info@centralbank.gov.af

ویب پاڼه: www.centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



د افغانستان بانک د ټولو رییس

نور الله دلاوری



د افغانستان بانک لومړی مرستیال

خان افضل هده وال



د افغانستان بانک دویم مرستیال

الحاج محمد عیسی طراب

د مطالبو لړلیک

د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام.............................................. الف
**۱- پولي سیاست**.............................................................. ۱
اقتصادي وده.................................................................... ۱
سیالیت........................................................................... ۲
بیه لــــرونکې پاڼې................................................................ ۳
پولي پړسوب (تورم)............................................................. ۵
د مبادلې نرخ..................................................................... ۶
بهرنی سکتور.................................................................... ۷
د افغانستان بانک اسعاري زیرمې............................................ ۸
**۲- د افغانستان مالي نظام**.................................................... ۹
د بانکي نظام وضعیت او کړنې................................................ ۹
ټولیزه شتمني..................................................................... ۱۱
ټولیزه پورونه..................................................................... ۱۲
د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي...................................... ۱۳
ټولیزه امانات..................................................................... ۱۶
ټولیزه پانګه....................................................................... ۱۷
ګټه او تاوان...................................................................... ۱۷
سیالیت............................................................................ ۱۸
د بهیر نیو اسعارو پرانېستی وضعیت......................................... ۱۹
**۳- د تادیاتو سیستم**........................................................... ۲۰
نړیوال تادیات (سویفټSWIFT)............................................... ۲۰
د بانکونو تر منځ تادیات......................................................... ۲۰
د نمایندګیو تر منځ تادیات...................................................... ۲۱
د تسویې او تصفیې برخه(Clearing House)................................. ۲۲
پرمختیایي برخه.................................................................. ۲۲
**۴- د بازار عملیات**.............................................................. ۲۴
د اسعارو لیلام(اکشن)........................................................... ۲۴
بیه لرونکې پاڼې ( کیپټل نوټ)................................................ ۲۴
لیتراف کریډټونه................................................................. ۲۵

**۵- مالي صورت حساب** ................................................................ ۲۶
د عوايد صورت حساب ........................................................ ۲۷
د نقدی جريان صورت حساب .............................................. ۲۸
**۶- اداره او پراختيا** ..................................................................... ۳۰
د پولو ناظر اداره .................................................................. ۳۰
د حقوقي مشاوريت دفتر ...................................................... ۳۱
د ريسک منجمنټ اداره ....................................................... ۳۱
د افغان اماناتو د بيمې دفتر.................................................... ۳۳
د عامه اعتباراتو ثبت............................................................. ۳۳
د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انستيټيوټ......................... ۳۵
معلوماتي تکنالوژي ............................................................... ۳۸
بشري منابع .......................................................................... ۳۹
خدمات ................................................................................ ۴۰

**د جدولونو لړلیک:**


۱ جدول: د لوي اقتصاد عمده متحولین.......................................................................۲

۲ جدول: د ۱۳۸۷ – ۱۳۹۱ مالي کال پورې د توکو د سوداګرۍ بیلانس .............................۷

۳ جدول: په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او نورې اسانتیاوې...........................................۹

۴ جدول: د دبټ کارت، کرېډټ کارت او ای ټي ام کارتو نو کاروونکو شمېر.........................۱۰

۵ جدول: د بانکونو ټولیزه ناخالص پورونه ...................................................................۱۳

۶ جدول: د ولایتونو په کچه د پورونو وېش....................................................................۱۴

۷ جدول: د سکتوري پورونو وېش.............................................................................۱۵

۸ جدول: د پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځینه مشتریانو د شمېر.......................................۱۵

۹ جدول: د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب.......................۱۶

۱۰ جدول: د کارکوونکو، پوروړو، امانت ایښودونکو او نورو مشتریانو شمېر.........................۱۹

۱۱ جدول: له ۱۶ سوداګریزو بانکونو څخه وضع شوي ټولیزه حق البیمه..............................۳۳

۱۲ جدول: د حق البیمې د راټولیدو سلنه....................................................................۳۳

۱۳ جدول: جوړ شوي کورسونه..................................................................................۳۷

## د ګرافونو لړلیک


۱ ګراف: ۱۳۹۱ مالي کال لپاره د پولي د زېرمو حقیقي وده.........۳
۲ ګراف: ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې په ګردښت کې د پیسو حقیقي ودې.........۳
۳ ګراف: ۱۳۹۱ مالي کال کې ۲۸ ورځني بیه لرونکي پاڼې.........۴
۴ ګراف: په ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې ۱۸۲ ورځني بیه لرونکي پاڼو کچه.........۴
۵ ګراف: د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک خپرې شوې بیه لرونکې پاڼې.........۵
۶ ګراف: د پولي پړسوب عمومی کچه.........۶
۷ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې افغانی د مبادلې نرخ.........۷
۸ ګراف: د تیرو څلورو کلونو په اوږدو کې د هېواد خالصه اسعاری زیرمې.........۸
۹ ګراف: د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو شمېر.........۹
۱۰ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو، اماناتو او پانګې بهیر.........۱۱
۱۱ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه.........۱۱
۱۲ ګراف: د ټولیزه ناخالصه پورونو پر وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت.........۱۳
۱۳ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پورونه او امانات.........۱۶
۱۴ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه.........۱۷
۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ګروپونو ټولیزه ګټه او تاوان.........۱۸
۱۶ ګراف: د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د سویفټ سیستم د صادرې او واردې مبلغونه.........۲۰
۱۷ ګراف: د ۱۳۸۵ – ۱۳۹۱ کلونو په اوږدو کې د بانکونو تر منځ د تادیاتي معاملو.........۲۱
۱۸ ګراف: د ۱۳۹۱ مالي کال په ترڅ کې د نمایندګیو تر منځ تادیات.........۲۱
۱۹ ګراف: د ۱۳۹۱ مالي کالي په ترڅ کې تسویه او تصفیه شوي مبلغونه.........۲۲
۲۰ ګراف: د تادیاتو د سیستم پلان شوي طرح.........۲۳
۲۱ ګراف: د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د بیه لرونکو پاڼو لیلام.........۲۴
۲۲ ګراف: دیوې شپې د اماناتو د اسانتیا.........۲۵
۲۳ ګراف: د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د ټولو ناظر د ادارې د کاري پلان پلي کول.........۳۰
۲۴ ګراف: د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې روزل شوي محصلینو شمېر.........۳۵
۲۵ ګراف: د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د بانکونو او مالي ادارو روزل شوي کارکونکو شمېر.........۳۶
۲۶ ګراف: د ۱۳۹۱ کال د روزل شوي کارکونکو شمېر.........۳۸

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د عالي شورا او مشرتابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د افغانستان بانک د ۱۳۹۱ کال د کړنو کلنی راپور چې، د پولي سیاست، د بازار عملیات، د تادیاتو سیستم، د بانکي نظام وده او پراختیا او همدا ډول د کړنو د څرنګوالي بهیر او پلي کیدو ترڅنګ د بانکي نظام ټولیزه شتمني، امانات، پورونه او داسې نورې کړنې او لاسته راوړنې رانغاړي، د عامه پوهیایی لپاره تاسو ته وړاندې کوم.



د افغانستان بانک د اغیزناکه او انقباضي پولي سیاست په غورولي او د پولي سیاست د شته ابزارونو په کارونې سره، د تورم نرخ چې تیر کال ۹.۷۴ سلنه ؤ، په ۱۳۹۱ کال کې تر ټولو ټیټې کچې (۵.۷ سلنې) ته راټیټ کړ چې دا بریالیتوب د معقولو پولي سیاستونو د پلي کېدو او د انفلاسیون د مهارولو په برخه کې د افغانستان بانک د اغیز ناکه کړنو ښکارندوی کوي.

د افغانستان اقتصاد تیر کال د سیمې د هېوادونو په پرتله لوړه وده تجربه کړه چې د اقتصادي کړنو په پراختیا او د دندو په رامنځته کولو کې یې اغیزناکه رول درلود. په ۱۳۹۱ کال کې د کورني ناخالص تولید حقیقي وده شاوخوا ۱۰.۹ سلنې اټکل شوی چې د تیر کال په پرتله د پام وړ زیاته او د ودې دو رقمي شمیره ښکاره کوي. په دې وده کې د کرنې سکتور په لومړي قدم او د خدماتو سکتور په دویم قدم کې بنسټیز رول درلودلی دی.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ له سختو نوساناتو مخنیوی کړی، خو د نورو اسعارو په وړاندې د ډالرو د ارزښت د زیاتیدو په پام کې نیولو سره، د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د۴۹.۴۰ او ۵۵.۵۸ تر منځ په نوسان کې ؤ.

د ۱۳۹۱ مالي کال په وروستیو کې د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو کچه ۶،۳۵۱.۴۶ ملیونه امریکایي ډالرو ته ورسیده، په داسې حال کې چې د تیر کال په لیندۍ میاشت کې یې کچه ۵،۸۱۱.۳۵ ملیونه امریکایي ډالره وه. د اسعاري زیرموکچه د تیر کال په پرتله ۹.۲۴ سلنه (۵۴۰.۱۱ ملیونه امریکایي ډالره) زیاتوالی ښکاره کوي؛ چې دا زیاتوالی د افغانستان بانک له لاسته راوړنو څخه شمېرل کیږي.

د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ ۲۲۳.۴۶ ملیارده افغانۍ (۴.۳۳ ملیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۱۳.۵۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د شتمنیو تر ټولو زیاته وده خصوصي بانکونو درلودلې چې د تیر کال په پرتله ۳۱.۸۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، د دولتي بانکونو د شتمنیو وده ۸.۷ سلنه ده. د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه د بانکي نظام ناخالصه پورونه ۴۲.۱۶ ملیارده افغانۍ (۸۱۵ ملیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۸.۸۳ سلنه جوړوي چې د تیر کال په پرتله یې ۴.۶۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

په ټولیزه توګه د افغانستان بانک په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې د اداری، پراختیا، د بانکي قوانینو او مقرراتو په برخه کې بې ساري لاسته راوړنې درلودلې او د خپلو کارکوونکو د ظرفیت په لوړوالي کې نه ستومانه کیدونکې هلې ځلې کړې دي. زه د افغانستان بانک د ټولو کارکوونکو د زیار او هاند څخه د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې د افغانستان بانک د لا ډیرو د پرمختګونو، پراختیاوو او پرمختیاوو پوړۍ شاته پریږدي.

**په درنښت**

**نورالله دلاوري**

**د افغانستان بانک لوی رئیس**

# پولي سیاست



# پولي سیاست

د افغانستان بانک د اقتصادي کړنو ودې او پراختیا د زمینو د برابرولو په موخه تل د اغیزناکه او معقول پولي سیاست په طرح، تدوین او پلي کېدو کې هڅه کړې، څو د ملي اقتصاد بنسټیز شاخصونه د خپل کاري استقامت په اړانه کې د شته ابزارونو په کارونې سره، په مثبته توګه تر اغیزې لاندې ونیسي.

د پولي او مالي سیاستونو تر منځ د همغږۍ د اړتیا د اصل په بنسټ، د افغانستان بانک له مالیې وزارت سره د هېواد یوه درې کلنه برنامه (-۲۰۱۳/۱۴ ۲۰۱۰/۱۱) ترتیب او د پیسو نړیوال صندوق ته یې وړاندې کړه. د دې برنامې موضوعات د افغانستان دولت موخه او د افغانستان دولت او د پیسو نړیوال صندوق تر منځ د مالي او اقتصادي پالیسیو تفاهم لیک رانغاړي. د پیسو نړیوال صندوق اجرائیوي پلاوي د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۱۵ نېټه ۱۳۳.۶ ملیونه امریکایي ډالره (د کریډت د تمدید اسانتیا) تر برنامې لاندې د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره منظور کړې.

د افغانستان بانک د پولي سیاست عمومي آمریت د افغانۍ د تبادلې نرخ د ثابت ساتلو او د هېواد د ملی اقتصاد د اړتیا په اړانه کې د نقدینه ګۍ د کچې د انډول ساتنې له لارو د پولي پرسوب د ټیټېدلو په موخه چې د پولي سیاست لومړنۍ موخه ده د کریډټ اسانتیا تر برنامې لاندې فعالیت کوي.

د کریډت د تمدید د اسانتیا برنامې مهمې موخې د جوړښتي (تشکیلاتي) سمونونو د تطبیق په ګړندیتوب او د ملي اقتصاد په ټیکاو په ځانګړې توګه پر لا پاینده ودې او د نړیوالې ځواکونو له وتلو څخه وروسته د احتمالي ننګوونو په وړاندې پر چمتوالي ټینګار دی. د یادې شوې برنامې مهم او د پام وړ ټکی دا دی چې افغانستان څنګه کولای شي په سمه توګه خپل پولي او مالي سیاستونه همغږه او بیا یې طرح او پلي کړي. د یادونې وړ ده چې دا برنامه د افغانستان د ملي پراختیا د پنځه کلن پروګرام لپاره په همغږۍ کې د بې وزلۍ د کموالي په موخه تدوین شوې ده.

باید څرګنده کړو چې د افغانستان بانک په اقتصاد کې د پیسو د عرضه کولو اندازه ټاکنه د پیسو د مقداري تیورۍ پر بنسټ فورمول بندۍ کوي. دا میکانیزم پر دې اقتصادي اصل ولاړ دی چې د پیسو عرضه باید د هېواد د اقتصادي اسمي ودې سره جوښت او په متناسب ډول ترسره شي، څو د پړسوب پر کچې باندې د هغه له ناوړه اغیزو مخنیوی وشي، اوس مهال د دې کار د تحقق لپاره د پولي سیاست یوازینی ابزار، د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو او بیه لرونکو پاڼو پلورل دي.

## اقتصادي وده

د وروستیو کلونو په اوږدو کې د افغانستان اقتصاد د ګاونډیو هېوادونو په پرتله نسبتاً ښه وده درلوده چې دې اقتصادي ودې د اقتصادي کړنو په پراختیا او د دندو په رامنځته کولو کې مهم رول لوبولی دی.

د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې، د افغانستان کورني ناخالص تولید حقیقي وده شاوخوا ۱۰.۹ سلنه اټکل شوې ده چې د ۱۳۹۰ کال په پرتله زیاته او د ودې دوه رقمي شمېره ښکاره کوي.

د ۱۳۹۱ کال د اقتصادي ودې بنسټیز لامل د کرنې سکتور و. له کرنې وروسته د خدماتو سکتور د کورني ناخالص تولید په زیاتولو کې بنسټیزې رول درلودلی دی. د بېلګې په توګه د خدماتو په سکتور کې د ودې اصلي لاملونه د مخابراتو او ترانسپورت په فرعي سکتورونو کې د ګرځنده تلفن د شرکتونو او د ځمکنې او هوایي ترانسپورت د خدمتونو د فعالیتونو زیاتېدل وو.

د وروستیو وړاند وینو پر بنسټ، د ۱۳۹۲ کال لپاره د پیسو نړیوال صندوق لخوا د هېواد د اقتصادي ودې کچه شاوخوا ۳.۱ سلنه اټکل شوې ده، په داسې حال کې چې د یاد شوی کال لپاره د افغانستان بانک د اقتصادي ودې کچه د ۴ او ۶

سلنې تر منځ اټکل کړې ده. همدا ډول تمه کيږي چې په ۱۳۹۱ کال کې د کرنې سکتور د ودې سلنه بيا خپل منځنۍ کچې ته ورسيږي، خو په تير کال کې د دې سکتور د محصولاتو د ۳۰ سلنې زياتوالي له امله به د دې سکتور وده کمه شي. که څه هم په وروستيو کلونو کې د صنعت او خدماتو سکتورونو د هېواد په اقتصاد کې صعودي بهير درلودلی خو د کرنيزه سکتور اقتصادی وده، برعکس د اقليمي شرايطو او د ورښت کموالی له امله نوساني حالت درلودلی دی.

افغانستان بانک د بانکي سکتور د پرمختيا او د هېواد د اقتصادي وضعيت د ځرنګوالي په پام کې نيولو سره، پولي زيرمې( Reserve Money ) د نقدينه ګۍ د لومړی شاخص او په ګردښت کې پيسې د نقدينه ګۍ د دويمه شاخص په توګه ټاکلي دي.

د کريدت د تمديد د اسانتيا د برنامې په اړانه کې د ۱۳۹۱ کال لپاره د پولي زېرمو وده ۱۵.۲۲ سلنه ټاکل شوې وه چې د افغانستان بانک د معقول پولي سياست په پلي کيدو سره وتوانيد چې ټاکل شوی هدف په همدې کال کې په

کنټرولولو په موخه له دوه وسيلو يعنې د اسعار پلور او د بيه لرونکو پاڼو له ليلام څخه د پولي سياست د وسايلو په توګه کار اخلي.

۱- د اسعارو پلور: د اسعارو پلور د سوداګريزو بانکونو او مجوزو صرافانو په ګډون په اونۍ کې دوه ځلې د افغانستان بانک لخوا ترسره کيږي.

۲- د بيه لرونکو پاڼو ليلام: د افغانستان بانک ۲۸ ورځنۍ او ۱۸۲ ورځنۍ بيه لرونکي پاڼې خپردي چې په اونۍ کې يو ځل په سوداګريزو بانکونو او مجوزو صرافانو باندې پلورل کيږي. د دې

**۱ جدول : د لوي اقتصاد عمده متحولين وړاندې کوي**

| کلونه | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۰ | ۱۳۹۱( اټکل) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصه کورني توليداتو د واقعي ودې سلنه(٪) | ۹.۴ | ۱۶.۱ | ۸.۲ | ۱۶.۱ | ۲.۳ | ۱۷.۲ | ۳.۲ | ۸.۷ | ۱۰.۹ |
| د ناخالصه کورني توليداتو اسمي وده (مليارد افغانی) | ۲۸۶ | ۳۲۲ | ۳۸۶ | ۵۱۸.۶ | ۵۴۱.۱ | ۶۲۷.۴ | ۷۴۶.۸۵۹ | ۸۹۶.۱۴۳ | ۱۰۸۵ |
| د ناخالصه کورني توليداتو اسمي وده (مليارد امريکايي ډالر) | ۵.۹۵ | ۶.۴۸ | ۷.۷۵ | ۹.۵ | ۱۰.۶۴ | ۱۲.۸۷ | ۱۶.۳۴۳ | ۱۸.۷۸۵ | ۲۱.۰۴ |
| د پولي پړسوب نرخ، د کال پای (د هر کال د بدلونونو فيصدي) | ۱۴.۹ | ۹.۵ | ۴.۷۷ | ۲۰.۷۱ | ۳.۲ | -۵.۱۵ | ۱۶.۶۲ | ۱۱.۲۶ | ۵.۸ |
| د پولي پړسوب نرخ ( د کال اوسط) | ۱۳.۲ | ۱۲.۳ | ۵.۲ | ۱۲.۹۴ | ۲۶.۸ | -۱۲.۲ | ۷.۷ | ۱۱.۷۷ | ۶.۴ |
| ملي سرانه عايد (امريکايي ډالر) | ۲۵۳ | ۳۰۰ | ۳۳۵ | ۳۸۳ | ۴۲۶ | ۵۰۵ | ۶۲۹ | ۷۰۹ | ۷۷۹ |

## سياليت

د سياليت کچه په اقتصاد کې زيات ارزښت لري او د ټيټيدو او يا زياتيدو ځرنګوالی يې بايد د اقتصادي کړنو د ودې له کچې او پيسو ته د اقتصاد د اړتيا سره په همغږی کې ترسره شي. د

برياليتوب تر لاسه کړي. د يادونې وړ ده چې په دوران کې پيسې د ټوليزه پولي زيرمو شاوخوا ۸۵ سلنه جوړوي او په همدې دليل د نقدينه ګۍ د کچې د کنټرول مهم لامل ګڼل کيږي. د افغانستان بانک د پولي زيرمو د کچې د

ترڅنګ بانکونو او صرافانو ته يو کلن بيه لرونکي پاڼې هم پلورل کيږي. لومړی ګراف د هېواد د پولي زېرمو ځرنګوالی او د ۱۳۹۱ مالي کال (۱۳۹۱ د ليندۍ پای) لپاره د هغې ټاکل شوی حد ښکاره کوي.

**۱ ګراف: ۱۳۹۱ مالي کال لپاره د پولي زېرمو حقيقي وده**




**منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت**

**۲ ګراف: په ۱۳۹۱ مالي کال کې په ګردښت کې د پيسو د حقيقي ودې منحني**




**منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت**

څرنګه چې په پورته ګراف کې لیدل کیږي، د ۱۳۹۱ مالي کال په بهر کې په دوران کې پیسې د ټاکل شوي حد څخه ټیټې دي چې د بریالي او ګټور پولي سیاست بیانوونکی دی.

### بیه لرونکي پاڼې

بیه لرونکي پاڼې د افغانستان بانک هغه لنډ مهاله بیه لرونکي اسناد دي چې سوداګریز بانکونه د هغې له لارې خپلې اضافي زېرمې د پانګې اچونې په توګه د مرکزي بانک سره ږدي. د دې پاڼو د خپرولو موخه د سیالیت د کچې د بې ځایه لوړیدو چې په ملي اقتصاد کې د انډول د لمنځه تلو او د دې تر څنګ د پولي پړسوب د عمومي کچې دلوړیدو لامل کیږي، مخنیوی دی.

د ۱۳۹۱ مالي کال په پای کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۱۱.۶۶۸ ملیارده افغانۍ بیه لرونکي پاڼې په هېواد کې د بیه لرونکو پاڼو د لیلام په ترڅ کې په سودا ګریزو بانکونو او مجوزو صرافانو باندې د سیالیت د کچې د کنټرول په موخه پلورلي دي چې په ترتیب سره په ۲۸ ورځنۍ بیه لرونکو پاڼو کې په ټولیزه

توګه ۷.۱۰۰ ملیارده افغانۍ او په ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې په ټولیزه توګه ۴.۵۶۸ ملیارده افغانۍ لیلام شوي دي او په لیلام کې بریالي بانکونو ته د دواړو ډولو بیه لرونکو پاڼو د لیلام له امله ۲.۰۸ سلنه او ۳.۳۴ سلنه منځنۍ ټکټانه ورکړل شوې ده.

د یادونې وړ ده، د افغانستان بانک عالي شورا چې د افغانستان بانک د تصمیم نیونې تر ټولو لوړه مرجع ده، ۳۶۵ ورځې یا یو کلن بیه لرونکي پاڼې تصویب کړې چې له مخې یې د افغانستان بانک کولای شي د یو کلن بیه لرونکو پاڼو په خپرولو لاس پورې کړي.

په ترتیب سره، په (۳) او (۴) ګرافونو کې د ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو د پلور څرنګوالی ښودل شوی دی چې د افغانستان بانک لخوا د ۱۳۹۱ مالي کال په ترځ کې پلورل شوي دي.

**۳ ګراف: په ۱۳۹۱ مالي کال کې د ۲۸ ورځني بیه لرونکو پاڼو د لیلام کچه ښکاره کوي**




**۴ ګراف: په ۱۳۹۱ کال کې د ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو د لیلام کچه ښکاره کوي**



د۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۸۱۰،۹۵۷،۹۷۰.۲۹ افغانۍ د وړاندې شویو بیه لرونکو پاڼو ټکتانه ورکړې ده چې دا شمېره په ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې شاملیږي.

(۵) ګراف، د ۱۳۹۱ مالی کال په اوږدو کې په میاشتنی توګه د افغانستان بانک ټولیزه خپرې شوې بیه لرونکو پاڼې ښکاره کوي.

ملیارده افغانۍ وې او همدا ډول د ۱۳۹۱ مالي کال په پای کې د شپې اسانتیاوې ۳.۱۳ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې د همدې کال تر پای پورې د شپې په اسانتیاوو باندې ۳۸.۷۹ ملیونه افغانۍ ټکتانه ورکړل شوې ده. په همدې ترتیب د افغانستان بانک، د بیه لرونکو پاڼو، د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو او د شپې اسانتیاوو له امله ۹۶۵،۶۰۶،۲۹۵.۸۰ بانک د اسعارو د پلورل او د بیه لرونکو پاڼو د خپرولو له لارې د پولي زیرمو د ودې کچه او په ګردښت کې د پیسو اندازه، مدیریت او کنټرول کړې ده.

د مرکزي احصایې د وروستیو شمېرو په پنسټ، د۱۳۹۱ کال د لیندۍ په میاشت کې د پولي پړسوب کچه ۵.۷ سلنه وه، په داسې حال کې چې دا شمېره د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ په میاشت کې ۹.۷۴ سلنې

**۵ ګراف: د ۱۳۹۱ مالي کال په ترځ کې د افغانستان بانک خپرې شوې بیه لرونکې پاڼې**

**(شمیرې په ملیون افغانۍ)**




د ۱۳۹۱ مالي کال په پای کې له د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو الزامي زیرمې په ټولیزه توګه ۱۴.۶۶ ملیارده افغانۍ ته رسیږې چې د افغانستان بانک سوداګریزو بانکونو ته د دې زیرمو ۱۱۵.۸۵ ملیونه افغانۍ ټکتانه ورکړې ده. په همدې ترتیب د ۱۳۹۱ مالي کال په پای کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو جاري حسابونه په ټولیزه توګه ۸.۹۶۶ ملیونه افغانۍ ټکتانه ورکړې ده.

### پولي پړسوب (تورم)

د افغانستان بانک په دوامداره توګه هڅه کړې ده څو خپل لومړنی موخې ته د رسیدو لپاره چې د کورنیو بیو ثبات دی، د پولي پړسوب زیاتیدونکي لاملونه کنټرول کړي. په هېواد کې د پولي پړسوب د کنټرولولو په موخه د افغانستان ته رسیده چې د تورم په کچه کې د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

د تیر کال په پرتله د ځینو خوراکي توکو د بیو د ټیټوالي له امله د پولي پړسوب کچه راټیټه شوې ده د بېلګې په توګه ( شیدې او لبنیات له ۱۰.۴۶ سلنې څخه ۸.۸۰ سلنې ته او غوړي له ۵.۸۳ سلنې څخه ۳.۴۷ سلنې ته) او همدا ډول وچو

او تازه میوو په دې ټیټوالي کې مهم رول درلودلی دی چې له ۲۲.۸۶ سلنې څخه ۶.۳۹- سلنې ته ټیټوالی موندلی دی. د دې ترڅنګ دغیر خوراکي توکو په بیه کې هم ټیټوالی راغلی دی. د بېلګې په توګه د کالیو (جامو) بیې له ۱۸.۷۶ سلنې څخه ۷.۶۹ سلنې ته راټیټې شوي دي چې د بیو د شاخص په عمومي ټوکرۍ کې ۳۸.۷ سلنې ونډه لري.

په ۱۳۹۱ مالي کال کې د پولي پړسوب عمومي کچه د ملي بیو د شاخص پر بنسټ په شپږم ګراف کې ښودل شوي دي.

پولي سیاست په کاروني سره خپلې لومړنی موخې ته چې هماغه په ټیټ کچه کې د پړسوب ساتنه ده، ادامه ورکوی چې له نېکه مرغه توانیدلی دی د پړسوب نرخ په یو رقمي شمېره کې وساتي، څرنګه چې د پولي پړسوب نرخ د ۱۳۹۱ کال په لیندۍ میاشت ( د مالي کال په پای) کې د ملي مصرفوونکو د بیو د شاخص له مخې په یو رقمي حد کې دی چې په هېواد کې د پولي پړسوب دا نرخ، د افغانستان بانک د پولي سیاست اغیزمنتوب او بریالیتوب څرګندوي.

## د مبادلې نرخ

له هغه ځایه چې د افغانستان بانک اصلي او لومړنی موخه د کورنیو قیمتونو ثبات دی، د غوښتنې تامین کړي او له بلې خوا د افغانی د مبادلوي نرخ د نا مطلوبه نوساناتو مخنیوی وکړي. په همدې موخه د افغانستان بانک په ۱۳۹۱ کال کې په ټولیزه توګه ۲،۵۳۰.۵۰ ملیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي.

د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د ډالرو د مبادلې د نرخ اوسط (پیرل او پلورل) له ۴۹.۴۰ افغانۍ سره برابر ؤ. دا شمېره په ۱۳۹۰ کال کې ۴۷.۷۶ افغانۍ ته رسیده. په همدې ترتیب د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ۸.۲۰ سلنه ټیټوالي ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې تر ټولو لوړ نرخ په همدې کال کې ۵۵.۵۸ افغانۍ او تر ټولو

**۶ ګراف: د پولي پړسوب عمومي کچه ښکاره کوي**




د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه د بیو د ثبات د تحقق او د یو غښتلي مالي نظام د جوړیدو په برخه کې تل هڅه کوي. د پولي سیاست لوی آمریت د پولي سیاست د شته ابزارونو او د اغیزناکه

افغانستان بانک، د نقدینه ګۍ د کچې کنټرول لپاره د اسعارو لیلام ترسره کوي. یعنې د افغانستان بانک د اسعارو په لیلام کې په ځانګړې توګه امریکایي ډالر لیلاموي، څو له یوې خوا وارداتو لپاره د بازار اسعاري

ټیټ نرخ ۴۹.۴۰ افغانۍ ؤ.

(۷) ګراف د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د نوساناتو څرنګوالی وړاندې کوي.

## ۷ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ښکاره کوي




### بهرنی سکتور

بهرنی سکتور د یو هېواد د تادیاتو په بیلانس، بهرنیو پورونو او اسعاري زیرمو باندې بحث کوي. د هېواد د سوداګرۍ بیلانس په ۱۳۹۱ مالي کال کې د ۶،۱۵۸.۰۴ ملیون ډالرو کسر بیانوونکی دی چې د تیر کال د لومړیو نهو میاشتو په پرتله په صادراتو کې ۲۸.۱۸ ملیونه ډالره ټیټوالي او په وارداتو کې ۱،۹۲۳.۸۱ ملیونه ډالره زیاتوالی ښکاره کوي. واردات د ۱۳۹۰ کال د لومړیو ۹ میاشتو په پرتله، په ۱۳۹۱ مالي کال کې شاوخوا ۴۳ سلنه زیات شوي دي، په داسې حال کې چې صادرات په همدې دوره کې ۱۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. یعنې د هېواد واردات له ۴،۴۹۵.۸۶ ملیون ډالرو څخه ۶،۴۱۹.۶۷ ملیون ډالرو ته زیات شوي او بر عکس یې صادرات له ۲۸۹.۸۱ ملیون ډالرو څخه ۲۶۱.۶۳ ملیون ډالرو ته راټیټ شوي دي.

### ۲ جدول: له ۱۳۸۷ کال څخه د ۱۳۹۱ مالي کال تر پای پورې د توکو د سوداګرۍ بیلانس ښکاره کوي:

| کلونه | ۱۳۹۱ مالي کال | | د ۱۳۹۰کال لومړۍ شپږ میاشتې | | ۱۳۸۹ مالي کال | | ۱۳۸۸ مالي کال | | ۱۳۸۷ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د (٪) ونډه | مجموع | د (٪) ونډه | مجموع | د(٪) ونډه | مجموع | د (٪) ونډه | مجموع | د (٪) ونډه | مجموع |
| واردات | ۱۰۰٪ | ۶،۴۱۹.۶۷ | ۱۰۰٪ | ۲،۵۹۹.۸۴ | ۱۰۰٪ | ۵،۱۵۴.۳۱ | ۱۰۰٪ | ۳،۳۳۶.۴۵ | ۱۰۰٪ | ۳،۰۱۹.۸۶ |
| صنعتي توکي | ۱۶.۴۰٪ | ۹۶۹.۸۸ | ۱۱.۷۰٪ | ۳۰۳.۵۵ | ۱۱.۷۰٪ | ۶۰۲.۴۸ | ۸.۸۰٪ | ۲۹۴.۲۴ | ۱۰.۴۰٪ | ۳۱۳.۳۶ |
| د سون مواد او روغنیات | ۱۳.۲۰٪ | ۱،۰۸۳.۶۵ | ۲۹.۶۰٪ | ۷۷۰.۱۹ | ۱۹.۸۰٪ | ۱،۰۲۲.۶۶ | ۲۱.۲۰٪ | ۷۰۷.۱۹ | ۱۶.۰۰٪ | ۴۸۴.۴۲ |
| مصرفي توکي | ۱۹.۶۰٪ | ۱،۲۵۵.۴۸ | ۱۱.۴۰٪ | ۲۹۶.۸۵ | ۱۵.۶۰٪ | ۸۰۳.۶۷ | ۲۱.۸۰٪ | ۷۲۸.۱۴ | ۲۶.۲۰٪ | ۷۹۱.۷۱ |
| د پانګونې توکي او نور | ۵۰.۸۰٪ | ۳،۱۱۰.۶۶ | ۴۷.۳۰٪ | ۱،۲۲۹.۲۵ | ۵۲.۹۰٪ | ۲،۷۲۶ | ۴۸.۲۰٪ | ۱،۶۰۶.۸۸ | ۴۷.۴۰٪ | ۱،۴۳۰.۳۷ |
| صادرات | ۱۰۰٪ | ۲۶۱.۶۳ | ۱۰۰٪ | ۱۹۷.۱۹ | ۱۰۰٪ | ۳۸۸.۳۷ | ۱۰۰.۰۰٪ | ۴۰۳.۰۷ | ۱۰۰٪ | ۵۴۴.۵۶ |
| غالۍ او قالینچې | ۱.۷۰٪ | ۸.۴۳ | ۱۰.۷۰٪ | ۲۱.۰۴ | ۱۷.۷۰٪ | ۶۸.۸ | ۱۷.۱۰٪ | ۶۸.۷۸ | ۲۸٪ | ۱۵۳.۰۵ |
| خوراکي توکي | ۳۰.۰۰٪ | ۱۰۴.۲۳ | ۲۹.۹۰٪ | ۵۹.۰۱ | ۴۰.۳۰٪ | ۱۵۶.۳۵ | ۵۵.۸۰٪ | ۲۲۴.۸ | ۵۳٪ | ۲۹۰.۳۸ |
| چرم او پشم | ۱۱.۱۰٪ | ۲۶.۸۲ | ۷.۹۰٪ | ۱۵.۵۱ | ۱۳.۹۰٪ | ۵۳.۸۴ | ۶.۱۰٪ | ۲۴.۶۷ | ۵٪ | ۲۹.۲۹ |
| طبي نباتات اوداسې نور | ۵۷.۲۰٪ | ۱۲۲.۱۵ | ۵۱.۵۰٪ | ۱۰۱.۶۳ | ۲۸.۲۰٪ | ۱۰۹.۳۵ | ۲۱.۰۰٪ | ۸۴.۸۲ | ۱۳٪ | ۷۱.۸۴ |
| د سوداګرۍ بیلانس<br>د کورني ناخالص تولیداتو په سلنه سوداګري | -۶،۱<br>- | | -۲،۴۰<br>-۱۳٪ | | -۴،۷۶<br>-۲۸٪ | | -۲،۹۳<br>-۲۳٪ | | -۲،۴۷۵.۳۰<br>-۲۱٪ | |

## د افغانستان بانک اسعاري زېرمې

په تیرو کلونو کې د افغانستان بانک په اسعاري زیرمو کې زیاتوالی د هېواد په مالي نظام کې یو له سترو لاسته راوړنو څخه شمېرل کیږي او د ملي اقتصاد د بنسټیزو شاخصونو له جملې څخه ګڼل کیږي. د هېواد د اسعاري زیرمو په پیاوړتیا کې د نړیوالې ټولنې مرستو مهم رول لوبولی او له نېکه مرغه د افغانستان بانک توانیدلی دی څو د خوندي او مناسبو پانګونو په پایله کې د هېواد له اسعاري زیرمو څخه په بریالیتوب ګټه واخلي.

د ۱۳۹۱ مالي کال په پای کې، د افغانستان بانک خالصه اسعاري زیرمې ۶،۳۵۱.۴۶ ملیون امریکایي ډالره اټکل شوي، په داسې حال کې چې دا شمېره تیر کال د لیندۍ د میاشتې په پای کې ۵،۸۱۱.۳۵ ملیون امریکایي ډالرو ته رسیده چې ۹.۲۴ سلنه (۵۴۰.۱۱ ملیون امریکایي ډالره) زیاتوالی ښکاره کوي.

(۸) ګراف د تیرو څلورو کلونو په ترڅ کې د هېواد د اسعاري زیرمو د ودې څرنګوالی وړاندې کوي.

**۸ ګراف: د تیرو څلورو کلونو په اوږدو کې د هېواد خالصه اسعاري زیرمې**



# د افغانستان مالي نظام



# د افغانستان مالي نظام

## د بانکي نظام وضعیت او کړنې

بانکي نظام له ۱۶ جواز لرونکو بانکونو څخه جوړ دی چې له ډلې یې ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او ۴ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي. د یادونې وړ ده چې د امنیتي دلیلونو په خاطر د استندرد چارترد بانک غوښتنلیک د فعالیتونو د ځنډولو لپاره د افغانستان بانک لخوا منظور شوی چې د ۲۰۱۲ کال د سپتامبر په ۱۳ نېټه د یاد شوي بانک حسابونه، عملیات او کارکوونکي په خوندي توګه د افغانستان نړیوال بانک ته چې یو له سوداګریزو بانکونو څخه دی، لیږدول شوي دي.

ټول بانکونه د افغانستان بانک لخوا لږ تر لږه د ټاکل شوي سیالیت له معیار سره په مطابقت کې واقع دي، خو د بهرنیو اسعاور پرانیستلي وضعیت له پلوه ټول بانکي جواز لرونکي مالي اداري ( پرته له شپږو بانکونو چې د ټولو بهرنیو اسعارو لپاره د افغانستان بانک له ټاکل شوي حد ±۴۰ او د بهرنیو انفرادي اسعارو لپاره ±۲۰ څخه سرغړونه کړې ده) د افغانستان بانک د ټاکل شوي حدودو سره هم اړخه دي. د ټولو جواز لرونکو مالي ادارو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ ۱۲ سلنه) څخه لوړ دی، پرته له یو بانک څخه چې د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شوي حد څخه ټیټ قرار لري. په روانه میاشت کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنیو، ټولیزه اماناتو او ټولیزه پورونو صعودي بهیر درلودلی دی.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د خپل مالي کال پیل د ۱۳۹۱ کال د مرغومې د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه ( ۲۰۱۲ کال د دسمبر۲۱) او پای یې د راتلونکي کال د لیندۍ د میاشتې وروستۍ نېټه اعلان کړې ده چې د افغانستان بانک به د دې کار په پام کې نیولو سره، د بانکي سکتور د مالي

**۳ جدول: په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او نورې بانکي اسانتیاوې وړاندې کوي:**

| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدماتو سره نمایندګی | ۱۷۴ |
| له محدودو خدماتو سره نمایندګی | ۱۷۸ |
| د صرافی اتومات ماشینونه ( ۲۲ ډوله) | ۱۰۵ |
| *نورې اسانتیاوې (۲۵،۲۴،۲۱ ډوله) | ۷۷ |
| د پلور ځایونه(۲۳ ډوله)  ×× | ۲۷۲ |
| مجموع | ۸۰۶ |

* **د ۲۱ ډول اسانتیا:** هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو پړاوونو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.

**د ۲۴ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري لکه: دولتي او غیر دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکول او یا د بانک پیرودونکو ته داسې نور نغدي تادیات رانغاړي.

**د ۲۵ ډول اسانتیا:** دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو ) په حسابونو کې د اماناتو په ډول له عامه خلکو څخه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.

**د ۲۳ ډول اسانتیا:** په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې(یوازې لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).**

وضعیت راپور په راتلونکي دولسو میاشتو کې د دسمبر له پای سره سم ورکوي.

تاوان لاملونه د ګټې/ تاوان په برخه کې مفصلاً توضیح شوی دي.

وړاندې کوونکي په کابل او ۱۹۳ وړاندې کوونکي د هېواد په نورو ولایتونو کې په

**جدول۴: د اعتبار، بدهی او ATM کارتونو د کاروونکو شمېر ښکاره کوي:**

| | |
|---|---|
| د بدهی کارت (دبت کارت) | ۶۵،۶۰۲ |
| د اعتبار کارت (کریدت کارت) | ۳۰۹ |
| ای ټي ام کارت (ATM) | ۸،۴۶۶ |
| مجموع | ۷۴،۳۷۷ |

د افغانستان بانکي نظام په ۱۳۹۱ کال کې د ۹۵۹[1] ملیونه افغانی تاوان ښکارندوی دی. دا په داسې حال کې ده چې تیر کال (د ۱۳۹۰ کال په کب کې) د بانکي نظام تاوان ۲.۰۵

پورته ذکر شوي اسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي، په داسې حال کې چې دبت کارت او کریدت کارت د هېواد په ۸

فعالیت بوخت دي. سربېره پر دې، د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۲۸۱ نمایندګی په کابل ښاره او نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. له ۱،۱۳۴

**۹ ګراف: د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو شمېر ښکاره کوي**




ملیارده افغانۍ څخه زیات ؤ چې په پرتله ایزه توګه ۱.۰۹ ملیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. په تاوان کې د دې پام وړ ټیټوالی په پایله کې په کلنی توګه د شتمنی او بیا ګرځیدو نسبت ۰.۶۰- سلنه دی چې د۱۳۹۰ کال د کب میاشتي (د ۲۰۱۲ مارچ) د۱.۰۱- سلنې په پرتله ښوالی ښکاره کوي. د دې

ولایتونو کې او ای ټي ام کارت یوازې په کابل ښار کې د لاسرسي وړ دي.

د دې ترڅنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۴۸۲ جوازونه د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او ۱،۱۳۴ جوازونه صرافانو ته ورکړل شوي دي. د پولي خدماتو ۴۸۲ وړاندې کوونکو څخه د پولي خدماتو ۲۱۲

مجوزو صرافانو څخه، ۲۶۷ صرافان په کابل او ۷۷۲ صرافان د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي. د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر لپاره (۹) ګراف ته مراجعه وکړئ.

۱- په ۱۳۹۱ کال کې د بانکي نظام د تاوان شمېره وروسته له کلنی جوړوني (Annualize) د تیر کال (۱۳۹۰ کب) د ۱۲ میاشتنی شمېرې سره پرتله شوي دي.

## ټولیزه شتمني

د بانکي نظام ټولیزه شتمنی ۲۲۳.۹۶ ملیارده افغانی (۴.۳۳ ملیارده ډالره) دي چې د ۱۳۹۰ کال په پرتله ۱۳.۵۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې تیر کال (۱۳۹۰ کال په لیندۍ کې) د بانکي نظام ټولیزه شتمني ۱۹۷.۲۱ ملیارده افغانی(۴.۰۱ ملیارده ډالرو) ته رسیده. د شتمنیو تر ټولو ډېره ونډه خصوصي بانکونو درلوده چې د تیر کال په پرتله په سلو کې ۳۱.۸۲ سلنه ونډه ښکاره کوي، په داسې حال کې چې د دولتي بانکونو ونډه ۸.۷۰ سلنه وه او د بهرنیو بانکونو نمایندګی ۲۹.۳۴ سلنې ټیټوالي ښکاره کوي. د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو په شتمنیو کې د پام وړ ټیټوالي لامل د افغانستان نړیوال بانک ته د استندرد چارترد بانک د نمایندګۍ د فعالیتونو لیږد دی. (۱۰) ګراف له ۱۳۸۲ هجري لمریز کال څخه د ۱۳۹۱ مالي کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې بهیر وړاندې کوي.

### ۱۰ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه شتمني، بدهی او پانګه




### (۱۱) ګراف د څو کلونو په اوږدو کې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه



## ټولیزه پورونه

د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه د بانکي نظام ناخالص پورونه، ۴۲.۱۶ ملیارده افغانۍ( ۸۱۵ ملیون ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۸.۸۳ سلنه جوړوي او د تیرې دورې (۱۳۹۰ کال د لیندۍ) د ۴۰.۲۹ ملیارده افغانۍ(۷۱۹ ملیون ډالرو) په پرتله چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۲۰.۴۳ جوړوي، په اوسنۍ دوره کې(۱۳۹۱ کال په لیندۍ) کې یې ۴.۶۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د ټولیزه ناخالص پورونو له ډلې څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۱۰.۲۸ ملیارده افغانۍ(۱۹۹ ملیون ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۲۴.۳۸ او یا د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴.۵۹ سلنه جوړوي. د دې ترڅنګ دې شمېرې د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ د میاشتې په پرتله ۲.۱۲ سلنه زیات شوی دی. د بانکي نظام ډالري پورونه ۳۱.۸۸ ملیارده افغانۍ(۶۱۶ ملیون ډالره) یا د ټولیزه پورونو په سلو کې ۷۵.۶۰ یا د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۴.۲۳ جوړوي او د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ د میاشتې په پرتله ۵.۴۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د پور ورکولو په برخه کې، خصوصي بانکونه د ټولیزه پورونو ۸۲.۰۶ سلنې ونډې په لرلو سره مخکښه دی، دولتي بانکونه ۱۰.۲۳ سلنې ونډې سره په دویمه درجه کې او په پای کې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۷.۷۱ سلنې ونډې په لرلو سره په دریم درجه کې راځي.

## د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي

### صعب الحصول پورونه[2]:

دا چې د پورونو د ډله بندۍ راپور په ربعوار ډول د بانکونو لخوا ورکول کیږي، له همدې امله مونږ د وروستی ربعې یعنې د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې ارقام له مخکنۍ ربعې او د هغې له تیرې دورې سره پرتله کوو.

د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې له مخې، د بانکي نظام صعب الحصول پورونه ۲.۲۴ ملیارده افغانۍ (۴۳ ملیون ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۵.۳۱ جوړوي او د ۱۳۹۰ کال د لیندې د میاشتې د ۲.۰۲ ملیارده افغانیو په پرتله ۲۲۳ ملیون افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې په سلو کې ۵۲ صعب الحصول پورونه په یو سوداګریز بانک پورې تړلي دي. د مخکنۍ ربعې( د ۱۳۹۰- وږي) په پرتله ټولیزه صعب الحصول پورونه ۳۴ ملیونه افغانۍ ټیټوالي ښکاره کوي چې دا ټیټوالی په یو شمېر مالي مؤسسې پورې اړه لري.

### معکوس ډله بندي شوي پورونه[3]:

د ۱۳۹۱ کال لیندۍ د میاشتې له مخې معکوس ډله بندي شوي پورونه، ۲.۵۹ ملیادره افغانۍ(۵۰ ملیون ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۶.۱۵ جوړوي. دا شمېره د مخکنۍ دورې (د ۱۳۹۰ کال لیندۍ) په پرتله چې ۲.۸۹ ملیارده افغانۍ یا د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۷.۱۹ جوړوي، د ۳۰۳ ملیونو افغانیو په اندازه ټیټ شوی دی. معکوس ډله بندي شوي پورونه د مخکنۍ ربعې په پرتله د ۴۱۴ ملیون افغانۍ په اندازه ټیټوالی موندلی دی چې دا ټیټوالی یو شمېره بانکونو پورې تړل کیږي.

### تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[4]:

همدا رنګه تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ له مخې ۱.۰۴ ملیارده افغانۍ(۲۰ ملیون ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۲.۴۵ جوړوي او د مخکنۍ دورې(د ۱۳۹۰ کال په لیندۍ) کې د ۱.۷۷ ملیارده افغانۍ یا د ټولیزه ناخالصو پورونو د ۴.۴۰ سلنې په پرتله۴۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د مخکنۍ ربعې ( د ۱۳۹۰ کال – وږي ) په پرتله د پورونو په دې کټګورۍ کې ۱.۳۷ ملیارده افغانۍ ټیټوالی راغلی چې په یو شمېر بانکونو پورې اړه لري. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه په کره توګه کتنې او څارنې ته اړتیا لري، ځکه هغه پورونه چې تر

۲- صعب الحصول پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۹۱ ورځې یا زیاتې تیرې شوي وي.

۳- معکوساً ډله بندي شوي پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ٦١ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱-۱۸۰ ورځې ( مشکوکې) تیرې شوي وي.

۴- تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنی چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۳۱-٦۰ ورځې تیرې شوي وي.

نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي دي، زیات احتمال شته چې تر ټولو ټیټو صنفونو ته په اسانۍ وارړي.

**په خساره کټګورۍ کې پورونه:[5]**

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه ۲۴۹ ملیونه افغانۍ(۴.۸۱ ملیون ډالرو)

**کوچني او منځني پورونه:**

د ۱۳۹۱ کال د لینډۍ میاشتې د شمېرنې په اساس، کوچني پورونه او متوسطو مؤسسو ته پورونه ۶.۵۱ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې له دې ډلې ځخه متوسط پورونه ۲.۹۳ ملیارده افغانۍ یا د ټولیزه پورونو ۶.۹۵ سلنه جوړوي.

په لاندې جدول کې د بانکي نظام د ناخالصو پورونو توپیر او (۱۲) ګراف د ۱۳۹۱ کال د لینډۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت وړاندې کوي د ۱۳۹۱ کال د لینډۍ د میاشتې د شمېرنې

**۵ جدول: د بانکونو ټولیز ناخالص پورونه**

| بانک | ناخالصه پورونه (ارقام په ملیون افغانۍ) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۴،۳۱۴ |
| خصوصي بانکونه | ۳۴،۶۰۰ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ | ۳،۲۵۰ |
| مجموع | ۴۲،۱۶۴ |

**۱۲ ګراف: د ټولیزه ناخالصو پورونو په وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت**




ته رسیږي چې د مخکنۍ ورته دورې په پرتله ۴۳ ملیونه افغانۍ یا د ټولیزه ناخالصه پورونو ۰.۵۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د مخکنۍ ربعې په پرتله په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ۲۱۵ ملیونو افغانیو په اندازه زیات شوي دي.

په داسې حال کې چې کوچني پورونه ۳.۵۷ ملیارده افغانیو ته رسیږي او د ټولیزه پورونو ۸.۴۷ سلنه جوړوي چې دا کوچني او متوسط پورونه د اوو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي. متوسط او کوچني پورونو د مخکنۍ ربعې ( د۱۳۹۰کال وږي) په پرتله ۴۹۰ ملیارده افغانۍ زیاتوالی موندلی دی.

(احصاییې) پر بنسټ په ولایتونو او مختلفو سکتورونو کې د ټولیزه پورونو وېش په لاندې جدول کې وړاندې کیږي. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې بدلون نه دی راغلی، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

۵- په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد ځخه یې ۱۸۱ یا زیاتې ورځې تیرې شوې وي.

**(۶) جدول: د ولایتونو په کچه (له جغرافیایي پلوه) د پورونو د وېش مجموع ښکاره کوي:**

| شمېره | ولایتونه | د پور مبلغ (په ملیون افغانی) | د سلنې له مخې د پورونو مجموعه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۳۳،۳۴۰ | ٪۷۹.۰۷ |
| ۲ | بلخ | ۳،۰۶۸ | ٪۷.۲۸ |
| ۳ | هرات | ۲،۵۱۶ | ٪۵.۹۷ |
| ۴ | کندهار | ۴۶۹ | ٪۱.۱۱ |
| ۵ | بغلان | ۳۹۸ | ٪۰.۹۴ |
| ۶ | بدخشان | ۳۳۸ | ٪۰.۸۰ |
| ۷ | ننگرهار | ۳۱۹ | ٪۰.۷۶ |
| ۸ | کندز | ۲۹۱ | ٪۰.۶۹ |
| ۹ | بامیان | ۲۳۲ | ٪۰.۵۵ |
| ۱۰ | پروان | ۱۸۸ | ٪۰.۴۵ |
| ۱۱ | جوزجان | ۱۵۲ | ٪۰.۳۶ |
| ۱۲ | تخار | ۱۴۰ | ٪۰.۳۳ |
| ۱۳ | فاریاب | ۱۳۹ | ٪۰.۳۳ |
| ۱۴ | سرپل | ۱۲۵ | ٪۰.۳۰ |
| ۱۵ | سمنگان | ۸۰ | ٪۰.۱۹ |
| ۱۶ | غزني | ۳۱ | ٪۰.۰۷ |
| ۱۷ | کاپیسا | ۰.۲۳ | ٪۰.۰۰ |
| ۱۸ | نیمروز | ۰.۰۹ | ٪۰.۰۰ |
| ۱۹ | وردک | ۰.۰۶ | ٪۰.۰۰ |
| ۲۰ | ارزگان | ۰.۰۵ | ٪۰.۰۰ |
| ۲۱ | هلمند | ۰.۰۵ | ٪۰.۰۰ |
| ۲۲ | خوست | - | ۰ |
| ۲۳ | پکتیا | - | ۰ |
| ۲۴ | غور | - | ۰ |
| ۲۵ | دایکندي | - | ۰ |
| ۲۶ | پنجشیر | - | ۰ |
| ۲۷ | کنړ | - | ۰ |
| ۲۸ | لوگر | - | ۰ |
| ۲۹ | لغمان | - | ۰ |
| ۳۰ | فراه | - | ۰ |
| ۳۱ | زابل | - | ۰ |
| ۳۲ | پکتیکا | - | ۰ |
| ۳۳ | بادغیس | - | ۰ |
| ۳۴ | نورستان | - | ۰ |
| | مجموع | ۴۱،۸۲۵ | ٪۱۰۰ |
| | له افغانستان نه بهر پورونه | | |
| ۱ | پاکستان | ۳۳۹ | ٪۰.۹۲ |
| | ټولیزه پورونه | ۴۲،۱۶۴ | |

## ۷ جدول: د سکتوري پورونو وېش ښکاره کوي

| سکتور | د سلنې له مخې د پورونو مجموعه |
|---|---|
| رهني او تعميراتي پورونه | ۲.۲۹ % |
| **نور سوداګريز پورونه** | |
| *کانونه* | ۰.۱۱ % |
| توليدات | ۱۱.۸۸ % |
| سوداګري | ۲۸.۳۰ % |
| مخابرات | ۲.۳۵ % |
| خدمتونه | ۱۵.۹۴ % |
| اسانتياوې | ۰.۰۷ % |
| نور سوداګريز پورونه | ۱۰.۵۰ % |
| کرنيز پورونه | ۲.۶۶ % |
| مصرفي پورونه | ۰.۸۴ % |
| د اشخاصو لپاره د استوګنې رهني پورونه | ۱۴.۴۶ % |
| نور پورونه له پورته ياد شوي مواردو پرته | ۱۰.۷۱ % |
| **مجموعه** | **% ۱۰۰** |

(۸) جدول د ۱۳۹۱ کال د لړم په مياشت (MIAFA) د شريکانو عمومي جزئيات او ښځينه پوروړو او داسې نورو جزئيات کې په مرکز، ولايتونو او ناحيو کې د دې ترڅنګ د پيرودونکو، پوروړو، د پور ورانديز کوي: مؤسسو د شمېر له پلوه په هېواد کې د مسفاء د مبلغونو، د ښځينه پيرودونکو د سلنې،

| ۸ جدول | |
|---|---|
| د کوچنيو پورونو مالي موسسې | ۶ |
| ولايتونه | ۲۲ |
| ناحيې | ۹۶ |
| پيرودونکي | ۳۰۸،۴۴۹ |
| مقروضين(پوروړي) | ۱۹۶،۹۹۳ |
| د ورکړل شوي پورونو شمېره | ۱،۱۹۷،۲۲۵ |
| د ورکړل شوي پورونو مبلغ (په مليون ډالر) | ۸۳۱ |
| د پاتې پورونو شمېر | ۱۹۶،۹۹۳ |
| د پاتې ناخالصه پورونو مجموعه (په مليون ډالر) | ۱۰۴ |
| د پيرودونکو پاتې سپما (په مليون ډالر) | ۱۳ |
| د ښځينه پيرودونکو سلنه | ۵۴.۸٪ |
| ښځينه پوروړي | ۱۱۶،۹۷۵ |
| په کليو او بانډو کې پورونه (په مليون ډالر) | ۲۳ |
| په ښارونو کې پورونه (په مليون ډالر) | ۸۱ |
| **منبع يا ماخذ** | www.misfa.org.af |

## ټولیزه امانات

امانات د بانکي نظام د بدیهانو تر ټولو لویه برخه جوړوي او د ۱۳۹۱ کال په لیندۍ کې ۱۹۲.۲۴ ملیارده افغانۍ(۳.۷۱ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۹۲.۷۲ سلنه جوړوي او په مخکنۍ دوره ( د ۱۳۹۰کال په لیندۍ ) کې د ۱۷۲.۷۵ ملیارده افغانۍ( ۳.۵۱ ملیارده ډالرو) په پرتله ۱۱.۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. هغه امانات چې په افغانیو نومول شوي یا د بانکي نظام په افغانۍ امانات ۵۶.۷۷ ملیارده افغانۍ( ۱.۰۹ ملیارده ډالرو) ته زیات شوي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۲۹.۵۳ سلنه جوړوي او د مخکنۍ دورې په پرتله ۱.۸۵ سلنه ټیټ شوی دی. هغه امانات چې په ډالرو نومول شوي یا د بانکي نظام ډالري امانات ۱۲۸.۶۶ ملیارده افغانۍ (۲.۴۸ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۶.۹۲ سلنه جوړوي او د تیرې دورې په پرتله ۱۷.۹۴ سلنه زیات شوی دی. خصوصي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې تر ټولو ډېره یعنې ۵۷.۷۱ سلنه ونډه لري او د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډې په ترتیب سره ۳۰.۸۰ سلنه او ۱۱.۴۹ سلنه جوړوي.

**۱۳ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پورونه او امانات**




**۹ جدول: د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب ښکاره کوي:**

| د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب ښکاره کوي (په ملیون افغانی) | |
|---|---|
| جاری | ۱۳۹،۴۷۹ |
| میعادی | ۷،۲۹۰ |
| سپما | ۴۵،۴۷۸ |
| **مجموعه** | **۱۹۲،۲۴۷** |

### ټولیزه پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري چې پانګه يې د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ میاشتې له مخې ۱۶.۶۲ ملیارده افغانۍ(۳۲۱ ملیونه ډالرو) ته رسیږي او د مخکنۍ دورې(د۱۳۹۰ کال د لیندۍ میاشت) د ۱۶.۰۱ ملیارده افغانۍ(۳۲۵ ملیونه ډالرو) په پرتله ۳.۸۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې په ځانګړې توګه د پانګې او د ګټې تزریق له لارې رامنځته کیږي.

ټولو مجوزو بانکونو ته یې لارښوونه کړې چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې خپله لومړنۍ پانګه له حد اقل ۱ ملیارد افغانۍ سره عیار کړيږ[7]، اوس چې ټاکل شوې موده پای ته رسیدلې ده، دوو بانکونو لا تر اوسه هم په سیستم کې خپله لومړنۍ پانګه له حد اقل ۱ ملیارد افغانۍ سره عیار کړې نه ده. ۱۴ ګراف د بانکي نظام د مالي پانګې بهیر وړاندې کوي.

د بانکي نظام په ګټه کې د ودې بنسټیز لامل په غیر ټکټانه عوایدو کې د پام وړ ډېروالی دی، خو د ټکټانې عوایدو هم زیاتوالی موندلی دی. سربېره پر دغو مثبتو بدلونونو، د بانکي نظام لګښتونه هم زیات شوي دي، خو دا زیاتوالی د پورته یاد شوي مطلوب زیاتوالي څخه کم دي.

منځنۍ ارزښت (Spread) یا د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي اماناتو د ټکټانې

**۱۴ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه**




د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ ده، خو پرته له یو بانک څخه چې د مقرراتي پانګې نسبت یې د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه ښکته دی[6]. د بانکي نظام د مالي پانګې د تقویې او ټینګښت په موخه، د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شوی لومړنۍ پانګې کچه تر ۱ ملیارد افغانۍ لوړه کړې او

### ګټه/ تاوان

بانکي نظام د ۱۳۹۱ کال په لیندۍ کې په ټولیزه توګه ۵۲۸ ملیونه افغانۍ ګټه کړې ده. د ۱۶ بانکونو له ډلې څخه څلورو بانکونو په ټولیزه توګه ۱۵۹ ملیونه افغانۍ تاوان کړی او د مخکنۍ میاشتې ۷۴ ملیونه افغانۍ تاوان په پرتله هم څلور بانکونو په تاوان کې وو ادا تاوان ۸۵ ملیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې د دې تاوان ۱۵۹ سلنه یو بانک پورې اړه لري.

ترمنځ توپیر د مخکنۍ میاشتې په پرتله په سلو کې ۱.۲۱ ټیټ شوی چې اوس مهال ۱۰.۶۳ سلنه دی. د څلورو بانکونو منځنۍ ارزښت د بانکي نظام له منځنۍ ارزښت څخه ټیټ واقع دی. د بانکي نظام د اغیزناکۍ (Efficiency)منځنۍ حد ۱.۹۲ دی چې د تیرې میاشتې په پرتله ۰.۵۴ سلنه زیات شوی دی. اوه بانکه په بانکي نظام کې د مثمریت له منځني حد څخه ټیټ واقع دي.

٦- د افغانستان بانک د عالی شورای دپریکړو پربنسټ، نوي کابل بانک ته د جوړښت او مقرراتي پانګې په برخو کې تر خصوصي کیدو پورې د مالیې وزارت لخوا معافیت ورکول شوي دی.

۷- د افغانستان بانک د عالی شورای تصویب نیټه ۳/۶/۱۳۸۹

**( د ۱۳۹۱ له وري څخه تر ۱۳۹۱ لیندی پورې) ټولیزه ګټه/ تاوان**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د تصمیم په پام کې نیولو سره په مالي کال کې د بدلون راوستلو له مخې، ۱۳۹۱ مالي کال نهه میاشتې په بر کې نیسي. نو، د ګټې/ تاوان د برخې پرتله د ۱۳۹۱ کال د نهو بانکي نظام تاوان ۲.۰۵ ملیارد افغانۍ څخه زیات ؤ چې ۱.۰۹ ملیارده افغانۍ ته راټیټ شوی دی. په تاوان کې د پام وړ ټیټوالي په پایله کې شتمنیو ته د بیا ګرځېدنې (برګشت) نسبت د کال له مخې په سلو کې ۰.۶۰- دی چې د ۱۳۹۰ کال د کب د میاشتې ( د ۲۰۱۲ چې د اساسي عاید ( Core Income ) پر بنسټ درې بانکونه په زیان کې دي چې په مخکنۍ ورته دوره کې دا شمېره څلورو بانکونو ته رسیده. (۱۵) ګراف په کلني ډول (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر) د بانکي نظام د ګټې او تاوان بهیر ورانديې کوي.

**۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ګروپونو ټولیزه ګټه او تاوان**




میاشتو او د ۱۳۹۰ کال د دولسو میاشتو تر منځ صورت مومي.

د سمې پرتله کولو په موخه مونږ د ۱۳۹۱ کال د لیندی میاشتې ( د ۲۰۱۲ – دسمبر) ارقام کلنې حالت ته د هغه د اړولو وروسته ( د کلنی سنجش له مخې) په پام کې نیسو.

د افغانستان بانکي نظام په ټولیزه توګه د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې ۹۵۹ ملیونه افغانۍ تاوان کړی دی دا په داسې حال کې ده چې په تیر کال کې ( د ۱۳۹۰کال– کب– د کال– مارچ) د ۱.۰۱– سلنې په پرتله یې ښوالی موندلی دی. د تیرې دورې په پرتله په ۱۳۹۱ کال کې د بانکي نظام د تاوان د کمېدو عمده لامل، د خالص ټکټانه عوایدو او غیر ټکټانه عوایدو زیاتوالی او د اسعارو د نوي ارزښت ټاکنې له امله ؤ. په ټولیزه توګه پنځو بانکونو ۳.۱۷ ملیارده افغانۍ تاوان کړی دی چې په تیره دوره کې ټولیزه تاوان پنځو بانکونو ته نسبت ورکول کېده چې ۳.۷۲ ملیارده افغانیو ته رسیده. باید یادونه وکړو

**سیالیت**

د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت، د افغانستان بانک د سیالیت لپاره د ټاکل شوي حد اقل ( د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی. د ۱۳۹۱ کال د لیندی د میاشتې د شمېرو په بنسټ، په سترو اماناتو ( هغه امانات چې له ۵ ملیونو افغانۍ زیات وي) باندې د بانکي نظام د اماناتو د ډېر تمرکز په هکله اندېښنې شتون لري. دغه ستر امانات د ټولیزه اماناتو

شاوخوا ۵۵.۳۶ سلنه جوړوي او له ۵،۲۰۹ حسابونو څخه جوړه ده چې د نقدینه ګۍ له پلوه ډېره مهمه ګڼل کیږي او د ( مفر بدهیو ( تبنتیدونکی بدهیو) له اقلامو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو اماناتو منځنی حد ۶۲ ملیونه افغانۍ دی چې د تېرې ربعې په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی.

**د بهرنیو اسعارو پرانیستی وضعیت**

بانکونه په عمومي توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانیستي وضعیت (±۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت (±۲۰ سلنې) د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي، پرته له شپږو بانکونو چې د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت (ډالرو) لپاره یې له ټاکلي حد څخه سرغړونه کړې ده.

**۱۰ جدول د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ میاشتې د شمېرو له مخې، د کارکوونکو، پوروړو، امانت ایښودونکو او نورو پیرودونکو شمېر وړاندې کوي:**

| ځانګړتیاوې | شمېر |
|---|---|
| کورني کارکوونکي | ۷،۹۴۹ |
| بهرني کارکوونکي | ۱۲۲ |
| پوروړي | ۶۷،۶۴۶ |
| امانات ایښودونکي | ۲،۷۳۸،۷۹۵ |
| نور پیرودونکي[۸] | ۲،۰۸۱ |

۸- د نورو مشتریانو ( نورو پیرودونکو) شمېره چې بانکي تضمینونه، لیتراف کریدتونه، نور تضمینونه او ژمنې ولري.

# د تادياتو سيستم



# د تادیاتو سیستم

د تادیاتو لوی مدیریت د افغانستان بانک یو له عملیاتي مدیریتونو څخه دی چې د مختلفو تادیاتي سیستمونو په کارولو سره کورنۍ او نړیوالې معاملې ترسره کوي. هغه معاملې چې د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې د تادیاتو د لوی مدیریت د تادیاتي سیستمونو له لارې ترسره شوي دي. د وارده، صادره او د اسعارو د ډول له تفکیک سره په لاندې ډول ورانديز کيږي.

**نړیوال تادیات (سویفت SWIFT)**

په دې برخه کې ۱،۸۳۷ وارده معاملې د ۴،۴۵۴،۷۷۲،۰۶۷.۰۴ امریکايي ډالرو په ارزښت او ۱،۸۹۵ صادره معاملې د ۴،۲۳۰،۳۲۵،۸۳۸.۳۴ امریکايي ډالرو په ارزښت ترسره شوي دي.

**د بانکونو تر منځ تادیات**

د ۱۳۹۱ مالي کال په اوږدو کې ۵۸،۱۷۵ افغاني معاملې د ۳۱۸،۱۸۱،۴۴۱،۳۷۸.۷۷ افغانۍ په ارزښت، ۳۷،۵۲۱ ډالري معاملې د ۵،۷۰۱،۷۴۸،۴۷۹.۲۸ امریکايي ډالرو په ارزښت او ۹۷۱ د یورو معاملې د ۸۲،۱۶۱،۸۶۸.۸۶ یورو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۹۶،۶۶۷ معاملې کیږي، د بانکونو تر منځ د تادیاتو د سیستم له لارې اجراء شوي دي. د افغانستان بانک، د بانکونو تر منځ تادیاتي خدماتو په وړاندې کولو سره نه یوازې راکړه او ورکړه د بانکي سکتور اړانې ته اړولې بلکې د وروستیو څو کلونو په ترڅ کې د ډالري معاملو په وړاندې د افغانۍ معاملو صعودي بهیر دا په ګوته کوي چې د افغانستان بانک د افغانۍ د دودولو د برنامو په ترسره کولو کې بریالی دی.

(۱۶) ګراف د ۱۳۹۱ مالي کال په ترڅ کې د سویفټ نړیوال تادیاتي سیستم لخوا د وارده او صادره معاملو مبلغونه ښکاره کوي.

**۱۶ ګراف:**



**۱۷ ګراف: د ۱۳۹۱–۱۳۸۵ کلونو په اوږدو کې د بانکونو تر منځ د تادياتي معاملو وده ښکاره کوي**




### د نمايندګيو تر منځ تاديات

هغه معاملې چې په ۱۳۹۱ کال کې د نمايندګيو تر منځ د تادياتو په برخه کې ترسره شوي دي د دولتي ارګانونو، سوداګريز بانکونو او د ملي پيوستون د برنامو معاملې په بر کې نيسي چې ۱۲،۴۷۸ معاملې د ۱۱۳،۹۳۵،۷۳۶،۲۶۵.۰۹ افغانۍ په ارزښت او ۵۴۸ معاملې د ۳۱۳،۹۹۰،۱۵۱.۰۰ امريکايي ډالرو په ارزښت د نمايندګيو تر منځ د تادياتو د سيستم لخوا پرمخ وړل شوي دي.

(۱۸) ګراف هغه مبلغونه چې د پورته سيستم له لارې د وارده مبلغونو په جلاتوب سره د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې اجراء شوي، دي وړاندې کوي.

**ګراف ۱۸:**



## د تسويې او تصفيې برخه (Clearing House)

د تسويې او تصفيې برخه چې د تادياتو د مديريت يو بله برخه ده، د ۱۳۹۱ مالي كال په اوږدو كې يې ۲،۵۶۳ چكونه د ۶۸۷،۱۱۴،۰۰۶.۵۹ مليونو افغانيو په ارزښت، ۳،۵۱۵ چكونه د ۳۲،۲۳۱،۵۴۸.۳۴ مليونو امريكايي ډالرو په ارزښت او ۳۱ چكونه د ۳۶۰،۷۲۲.۰۰ يورو په ارزښت تسويه او تصفيه كړي دي.

(۱۹) ګراف هغه مبلغونه چې د ۱۳۹۱ مالي كال په اوږدو كې د تسويې او تصفيې برخې لخوا ترسره شوي دي په لاندې ډول وړاندې كوي.

## پرمختيايي برخه:

د سويفټ سيستم چې د نړيوالو معاملو لپاره ترې كار اخيستل كيږي، هر كال د سويفټ كمپنۍ لخوا د تكنالوژيكي بدلونونو په پام كې نيولو سره نوي كيږي. د افغانستان بانك هم په ۱۳۹۱ مالي كال كې د ياد شوي كمپنۍ د سپارښتونو له مخې خپل سيستم له ۶.۰ نسخې څخه ۷.۰ نسخې ته بدل كړی دی. ياد شوي بدلونونو د افغانستان بانك د بهرنيو تادياتو سيستم له نړيوالو معيارونو سره عيار كړی دی.

د يادونې وړ ده چې د تادياتو لوی مديريت په ۱۳۹۱ مالي كال كې د نورو اړونده ادارو په همغږۍ د طرح شوي پلان له مخې د تادياتي سيستمونو د عصري كولو د پروژې كار چې مخكې پلان شوی ؤ، پيل كړی دی. ياده پروژه چې RTGS, CSD, ACH سيستمونه رانغاړي، خپل لومړني پړاوونه ترسره كړي او د يادو شويو سيستمونو د معرفی او نصب عملي كار به په نږدې راتلونكي كې پيل كړي.

**۱۹ ګراف:**



(۲۰) ګـراف د افغانستان د تادیاتو د سیستـم پـلان شـوې طرحه ښکاره کوي.

**۲۰ ګراف:**



# د بازار عملیات



# د بازار عملیات

د افغانستان بانک زېرمه شوي شتمنۍ د ۱۳۹۱ کال د ورې په پیل کې (۶.۲۵۹) ملیارده امریکایي ډالره وې او د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې په ۳۰ مه نېټه ۷.۰۶۳ ملیارده امریکایي ډالرو ته زیات شوي دي چې د مرکزي بانک په پورتفولیو کې ۸۰۴ ملیونه امریکایي ډالرو پورې توپیر ښکاره کوي. سربېره پر دې، د افغانستان بانک د ۱۳۹۱ کال له اوایلو څخه د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ د میاشتې تر ۳۰ مې نېټې پورې شاوخوا ۲.۵ ملیارده امریکایي ډالره د پولي پرسوب د انډول ساتلو په موخه په بازار کې لیلام کړي دي. د افغانستان بانک په پورتفولیو کې د زېرمې (ریزرف) د ټیټوالي اصلي لامل د ۱۳۹۰ کال په پرتله په نړیوال بازار کې د اسعارو او سرو زرو د نرخ د غیر مترقبه کموالی او ښکته راتلل ګڼل کیږي.

**۲۱ ګراف: د ۱۳۹۱ کال په ترځ کې د بیه لرونکو پاڼو لیلام**




خو د پانګې اچونې له پراخ کړکیچ او په نړیوال بازار کې د اسعارې ټکټانو د نرخونو له بې ساري ټیټوالي سره، د ریزرف مدیریت د پانګې اچونې د ګټو په توګه ۳۵ میلیونه امریکایي ډالره اټکل کړي دي چې په پایله کې د افغانستان بانک وتوانید چې ۲۸ ملیونه امریکایي ډالره ګټه د بهرنۍ پانګې اچونې له لارې ترلاسه کړي.

### د اسعارو لیلام (آکشن):

د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د اسعارو په لیلام کې چې معمولاً د شنبې او سه شنبې په ورځو د ریاست د عالي مقام تر نظر لاندې ترسره کیږي، په ټولیزه توګه شاوخوا ۲.۵ ملیارده امریکایي ډالره پلورل شوي دي.

پته دې پاتې نه وي چې د اسعارو د لیلام د بهیر د څرنګوالي راپور په دوامداره توګه د پولي سیاست لوی مدیریت او د ټولوناظر دفتر ته او د سیستم له لارې د هر لیلام (اکشن) کاپي اړونده مراجعو او د پیرودونکو د حسابونو تصفیې ته په ټاکلي وخت کې لیږدول شوي دي.

### بیه لرونکي پاڼې ( کېپیټل نوټ)

د ۱۳۹۱ کال له پیل څخه تر (۱۳۹۱/۹/۳۰د مالي کال پای پورې) د دې اداري لخوا په اونۍ کې یو ځل د بیه لرونکو پاڼو لیلام په لار اچول شوی چې په ترځ کې یې ۲۸ ورځنۍ او ۱۸۲ ورځنۍ بیه لرونکي پاڼې لیلام شوي دي. په یاد شوي وخت کې په ۲۸ ورځنۍ بیه لرونکو پاڼو کې په ټولیز توګه ۷۶،۶۰۷،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ او په ۱۸۲ ورځنۍ بیه لرونکي پاڼو کې په ټولیزه توګه ۴۷،۳۷۵،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ لیلام شوي دي او په لیلام کې بریالي بانکونو ته د بازار عملیات لخوا د دواړو ډولو بیه لرونکو پاڼو د

لیلام له امله ۸۱۰،۹۵۷،۹۷۰.۲۹ افغانۍ ټکتانه ورکړل شوې ده.

د روان کال په اوږدو کې د یوې شپې د اماناتو د اسانتیا ( Overnight Deposit Facility) اوسط کچه چې د سوداګریزو بانکونو لخوا د افغانستان بانک سره اېښودل شوي دي، ۴،۶۱۴،۷۲۰،۱۴۱.۳۸ افغانۍ ته رسیږي او له همدې کبله د بازار عملیات دفتر ۳۸،۷۹۴،۴۹۳.۶۷ افغانۍ ټکتانه امانات

په موخه له بهرنیو او کورنیو کمپنیو څخه د اړوند ارګانونو په فرمایش او د مالیې وزارت په موافقه له عادي او پرمختیایي بودجې څخه د اړوندو کمپنیو په وجه د بهرنیو او کورنیو معامله لرونکو بانکونو له لارې په مختلفو اسعارو پرانیستلي دي چې د لاندې اسعارو په جلاتوب سره معلومات وړاندې کیږي:

۱- هغه لیتراف کریډټونه چې د ۱۳۹۱ کال

تعدیلاتو، د لیتراف کریډټ غځول(تمدید)، د معامله لرونکو بانکو پوښتنو ته چې د سویفټ او ایمیل له لارې دې اداري ته رسیږي، اړین ځوابونه ویل رانغاړي. همدا ډول د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې له ۴۵۰ پیغامونو زیات د کورنیو او بهرنیو معامله لرونکو بانکونو په سرلیک (عنوان) د دوی د پوښتنو اړوند د سویفټ له لارې استول شوي دي.

په پای کې باید زیاته کړو هغه مبلغونه چې

**۲۲ ګراف:**




ایښودونکو ته ورکړې ده.

همدا ډول د همدې مودې په ترځ کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو د اجباري زیرمو (Required Reserve) له امله په ټولیزه توګه ۱۱۵،۸۵۳،۸۳۱.۹۲ افغانۍ ټکتانه سوداګریزو بانکونو ته تادیه شوې ده.

**لیتراف کریډیټونه:**

د لیتراف کریډیټونو مدیریت د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې شاوخوا ۳۵ وارداتي لیتراف کریډټونه د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو د اړتیا وړ سامان الاتو او تجهیزاتو د واردولو

په ترځ کې په ډالرو پرانېستل شوي په ټولیزه توګه ۱۴۲،۷۸۳،۱۹۵ ډالرو ته رسیږي.

۲- هغه لیتراف کریډټونه چې په یورو پرانیستل شوي په ټولیز ډول -/۱،۰۰۸،۱۲۰- یورو کیږي.

۳- هغه لیتراف کریډټونه چې په افغانۍ پرانیستل شوي -/۵۱۴،۰۷۰،۲۴۸- افغانیو ته رسیږي.

د یادونې وړ ده چې د لیتراف کریډټونو د پرانېستلو لړۍ یوازې د هغې په پرانېستلو سره پای ته نه رسیږي، بلکې د لیتراف کریډټ کتنې د نېټې تر پای پورې اوږده پروسه په بر کې نیسي چې دا لړۍ په لیتراف کریډټ کې د

لیتراف کریډټ د پرانیستنې په موخه د مالیې وزارت او دولتي ارګانونو له حسابونو څخه د پرانیستنې پر مهال اخیستل کیږي، په بشپړه توګه سل په سلو کې تر لاسه او د لیتراف کریډیټونو د ریزرف کوډ ته لیږدول کیږي. دا چې لیتراف کریډیټونه د وخت په قید کې د ورکړې وړ دي او د لیتراف کریډټ ډېری مبلغونه د هغه تر وروستی نېټې پورې چې اوږده موده په بر کې نیسي، د افغانستان بانک سره پاتې کیږي چې دا په خپله د افغانستان د ریزرف (زېرمو) کچه لوړوي.

# مالي صورت حساب



# مالي صورت حساب

## د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ ۳۰ مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د مالي کال پای

| شتمنۍ | یادداشت | ۱۳۹۱-۰۹-۳۰<br>ارقام په زر افغانۍ "۰۰۰" | Restrated<br>۱۳۹۰<br>ارقام په زر افغانۍ "۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| د سرو زرو زېرمې | ۴ | ۶۰،۴۲۴،۰۷۹ | ۵۷،۶۳۳،۶۰۴ |
| د بهرنیو اسعارو نقدي زېرمې | ۵ | ۲۱،۳۰۸،۶۵۶ | ۱۵،۸۳۰،۷۳۶ |
| له بانکونو او مالي ادارو څخه د تر لاسه کولو وړ پیسې (وجوه) | ۶ | ۲۲۱،۹۷۲،۲۹۴ | ۱۷۳،۲۸۴،۴۵۸ |
| د بیلونه ټریژري | ۷ | ۵۷،۴۴۲،۳۲۳ | ۶۲،۱۷۵،۸۸۶ |
| طلبات د پور ورکونې د وروستي مرجع په توګه | ۸ | ۳۰،۴۱۴،۹۱۶ | ۳۴،۸۴۳،۲۲۳ |
| طلبات او نور د حصول وړ حسابونه | ۹ | ۶۳۶،۴۷۳ | ۳۵۴،۹۲۴ |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | ۱۰ | ۹،۰۰۰ | ۹،۰۰۰ |
| جایدادونه او تجهیزات | ۱۱ | ۴،۶۴۸،۲۵۱ | ۴،۶۳۴،۹۸۷ |
| ناملموسه شتمنۍ | ۱۲ | ۱،۰۲۰ | ۴،۱۶۰ |
| نورې شتمنۍ | ۱۳ | ۱۲،۵۷۸،۴۳۱ | ۱۲،۵۸۲،۴۲۹ |
| **د شتمنیو مجموعه** | | ۴۰۹،۴۳۵،۴۴۳ | ۳۶۱،۳۵۳،۴۰۷ |
| ورکړې مکلفیتونه او د پانګې سهمیه (اکویتی) | | | |
| ورکړې | | | |
| په دوران کې پیسې | ۱۴ | ۱۵۰،۰۰۸،۴۷۹ | ۱۴۸،۰۵۵،۸۰۰ |
| کپیټل نوټ ( ارزښتناکه اسناد) | ۱۵ | ۳۵،۰۸۹،۸۰۹ | ۳۰،۷۴۹،۸۹۹ |
| بانکونو او مالي موسسو ته د تادیې وړ | ۱۶ | ۴۰،۰۹۷،۳۰۰ | ۳۸،۹۰۸،۷۳۳ |
| پیرودونکو ته د تادیې وړ | ۱۷ | ۱۰۴،۲۱۲،۲۶۷ | ۷۸،۷۳۴،۳۹۳ |
| ورکړې ( ای . ام . اف ) | ۱۸ | ۳۲،۲۶۸ | ۳۲،۲۶۸ |
| د متقاعدینو حقوق | ۱۹ | ۱،۳۶۷،۴۳۸ | ۱،۶۸۷،۳۱۶ |
| ځنډول شوي مرستې | ۲۰ | - | ۳۴،۲۹۶ |
| تدارکات (پرویژنونه) او نور د ورکړې مکفیتونه | ۲۱ | ۹،۴۳۵،۳۵۵ | ۸،۰۴۲،۴۵۰ |
| **د ورکړې مجموعه** | | ۳۴۰،۲۴۲،۹۱۶ | ۳۰۶،۲۴۵،۱۵۶ |
| پانګه( اکویتی ) | | | |
| پانګه | ۲۲ | ۱۵،۳۰۵،۷۵۹ | ۸۹۲،۲۹۷ |
| بیا ارزښت موندونکی زېرمې | ۲۲ | ۵۳،۸۸۶،۷۶۸ | ۵۴،۲۱۵،۹۵۴ |
| متراکم زیانونه | ۲۲ | - | - |
| د خالصې پانګې مجموعه | | ۶۹،۱۹۲،۵۲۷ | ۵۵،۱۰۸،۲۵۱ |
| **د ورکړې او خالصې پانګې مجموعه (اکویټي)** | | ۴۰۹،۴۳۵،۴۴۳ | ۳۶۱،۳۵۳،۴۰۷ |

له یو څخه تر ۳۳ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مال صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي.

| نورالله دلاوري | خان افضل هډه وال | احمد منیر نوید |
|---|---|---|
| د افغانستان بانک لوی رئیس | د افغانستان بانک لومړی مرستیال | لوی مالي آمر |

# د عوایدو صورت حساب

**د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ ۳۰ مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د مالي کال پای**

| | یادداشت | ۱۳۹۱<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰" | ۱۳۹۰<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | ۲۳ | ۲،۰۷۵،۱۲۷ | ۲،۲۶۸،۲۸۷ |
| د ټکټاني مصارف | ۲۴ | (۹۶۵،۶۰۶) | (۸۸۳،۶۴۰) |
| **د ټکټاني خالص عاید** | | ۱،۱۰۹،۵۲۱ | ۱،۳۸۴،۶۴۷ |
| د فیس او کمیشن عاید | | ۱۹۹،۰۷۹ | ۱۶۰،۱۸۷ |
| د فیس او کمیشن مصارف | | (۶۱،۸۸۱) | (۹۹،۷۴۴) |
| **د فیس او کمیشن خالص عاید** | | ۱۳۷،۱۹۸ | ۶۰،۴۴۳ |
| د بهرنیو اسعارو دتبادلې له امله ګټه/ تاوان | | ۵،۵۶۴،۲۴۵ | ۵،۴۱۰،۶۲۳ |
| مالي شتمنیو د پلور له اړخه خالص زیاتوالی | | (۱۳،۰۷۹) | ۱۱۹،۳۳۷ |
| نور عملیاتي عواید | ۲۵ | ۱۴۱،۰۱۳ | ۸۲،۷۵۱ |
| | | ۵،۶۹۲،۱۷۹ | ۵،۶۱۲،۷۱۲ |
| **عملیاتي عواید/ مصارف** | | ۶،۹۳۸،۸۹۹ | ۷،۰۵۷،۸۰۲ |
| د کارکوونکو مصارف | ۲۶ | (۱۱۱،۸۰۴) | (۸۴۰،۴۴۲) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | ۲۷ | – | (۱۲۹،۹۸۳) |
| نور مصرفونه | ۲۸ | (۲۲۹،۸۲۳) | (۲۲۴،۰۰۱) |
| د تنقیص شویو مامورینو مصارف | | (۲۶۱) | (۳۴،۲۸۳) |
| د مرستو لګښت (د پور ورکونې د وروستی مرجع په توګه) | ۸ | – | ۱۸،۱۰۸،۲۵۰ |
| د ودانیو په بیا ارزښت کې کموالی | ۱۱ | – | |
| استهلاک یا فرمایشونه | ۱۲و۱۱ | (۵۴،۰۰۱) | (۵۹،۵۳۷) |
| خالص عملیاتي تاوان | | ۶،۵۴۳،۰۰۹ | ۲۳،۸۷۷،۸۰۷ |
| د اسعارو دتبادلې غیر حقیقي تاوان | | ۷،۸۷۰،۴۵۳ | ۹،۸۴۲،۰۰۶ |
| کلنی تاوان | | ۱۴،۴۱۳،۴۶۲ | ۳۳،۷۱۹،۸۱۲ |

**له یو څخه تر ۳۳ شمیرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي.**

| | | |
|---|---|---|
| **نورالله دلاوري**<br>**د افغانستان بانک لوی رئیس** | **خان افضل هډه وال**<br>**د افغانستان بانک لومړی مرستیال** | **احمد منیر نوید**<br>**لوی مالي آمر** |

# د افغانستان بانک

## د نقدي جریان صورت حساب

## د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ ۳۰ مه (د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۲۰) د مالي کال پای

| | یادداشت | ۱۳۹۱-۰۹-۳۰<br>ارقام به هزار افغانی "۰۰۰" | ۱۳۹۰<br>ارقام به هزار افغانی "۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| **د عملیاتي کړنو نقدي جریانات** | | | |
| په کال کې خالصه ګټه/ (تاوان) | | ۱۴،۴۱۳،۴۶۲ | ۳۳،۷۱۹،۸۱۲ |
| **غیر نقدي کړنو لپاره تعدیل:** | | | |
| استهلاک یا فرسایشونه | | ۵۴،۰۰۱ | ۵۹،۵۳۷ |
| د ټکټاني عاید | | (۱،۷۰۲،۳۴۲) | (۱،۶۹۷،۳۵۵) |
| د ټکټاني مصارف | | ۹۶۵،۶۰۶ | ۸۸۳،۶۴۰ |
| پلور ته چمتو شتمینو له درکه د ټکټاني عواید | | (۳۷۲،۷۸۵) | (۵۷۰،۹۳۲) |
| د لګښت تاوان (نقص) لپاره تخصیص | | - | (۱۸،۱۰۸،۲۵۰) |
| د مرستو له پلوه عواید | | (۳۴،۲۹۶) | (۱۸،۴۷۳) |
| د کارکوونکو د تقاعد د تقویت لپاره مرسته او همغږي | | (۳۰۹،۹۶۱) | ۳۰۸،۴۵۲ |
| د اسعارو د تبادلې له امله تحقق نه موندلې ګټه / تاوان | | (۷،۸۷۰،۴۵۳) | (۹،۸۴۲،۰۰۶) |
| | | ۵،۱۴۳،۲۳۲ | ۴،۷۳۴،۴۲۵ |
| **کار لاندې پانګه کې بدلونونه** | | | |
| بانکونو او مالي مؤسسو د حصول وړ ټيټوالی | | ۲۰،۷۳۴،۳۵۱ | (۱۵،۸۹۹،۲۸۹) |
| د پور ورکوني د وروستی مرجع په توګه د مرستې ټيټوالی | | ۴،۴۲۸،۳۰۷ | (۱۶،۱۵۰،۱۶۸) |
| د طلباتو او نور د حصول وړ حسابونو زیاتیدل | | (۲۸۱،۵۵۰) | (۴۴،۵۰۳) |
| په نورو شتمنیو کې ټيټوالی | | ۳،۹۹۷ | ۱۰،۷۵۹ |
| په ګردښت کې د افغانی پیسو زیاتوالی | | ۱،۹۵۲،۶۷۹ | ۱۵،۶۱۳،۳۸۲ |
| بانکونو او مالي مؤسسو ته د تادیې وړ زیاتوالی | | ۱،۱۸۸،۵۶۷ | ۱۱،۴۰۴،۵۹۲ |
| د مشتریانو د تادیې وړ زیاتوالی | | ۲۵،۴۷۷،۸۷۴ | ۱۶،۸۹۴،۳۳۰ |
| د آی. ام. اف ورکړې | | - | (۳،۲۴۳) |
| په تدارکاتو (پروېژن) او نورو ورکړو کې زیاتوالی | | ۱،۳۹۲،۹۰۵ | (۵۹،۳۱۹) |
| | | ۵۴،۸۹۷،۱۲۹ | ۱۱،۷۶۶،۵۴۱ |
| د عملیاتي فعالیتونو نقدی جریانات | | ۶۰،۰۴۰،۳۶۱ | ۱۶،۵۰۰،۹۶۶ |
| حصول شوي ټکټانه | | ۱،۹۲۰،۰۶۶ | ۲،۱۵۸،۲۵۰ |
| ورکړل شوي ټکټانه | | (۹۶۵،۶۰۶) | (۷۹۹،۰۴۳) |
| تقاعد لپاره تادیه شوي پیسې | | (۹،۹۱۷) | (۲۶،۷۷۳) |
| د عملیاتي فعالیتونو خالص نقدي جریانات | | ۶۰،۹۸۴،۹۰۵ | ۱۷،۸۳۳،۴۰۰ |
| **د پانګه اچول شوي فعالیتونو نقدي جریانات** | | | |
| په پانګه اچونو کې زیاتوالی | | ۴،۷۸۶،۴۰۱ | (۵،۲۱۸،۳۴۰) |
| د جایدادونو او تجهیزاتو پېرودل | | (۶۳،۷۶۱) | (۱۲۰،۵۶۴) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| غیر منقولې/ مشهودې شتمنیو پېرودل | | (۳۶۴) | - |
| | | ۴،۷۲۲،۲۷۶ | (۵،۳۳۸،۹۰۴) |
| **د پانګه اچول شوي فعالیتونو خالص نقدي جریانات** | | | |
| د بیه لرونکو پاڼو خپرول | | ۴،۳۳۹،۹۰۹ | ۱۴،۶۹۲،۷۶۲ |
| **د مالي فعالیتونو خالص نقدي جریانات** | | ۴،۳۳۹،۹۰۹ | ۱۴،۶۹۲،۷۶۲ |
| د نغدو یا د نغدو معادل خالص زیاتوالی | | ۷۰،۰۴۷،۰۹۰ | ۲۷،۱۸۷،۲۵۸ |
| **په نغدو پیسو باندې د اسعارو د نرخ د بدلون اغیز** | | ۴،۶۹۷،۹۵۴ | ۵،۱۴۳،۳۷۶ |
| **د کال په پیل کې نغدې پیسې یا د هغې معادل** | | ۴۶،۵۱۴،۲۸۰ | ۱۴،۴۲۲،۳۲۰ |
| **د کال په پای کې نغدې پیسې یا د هغې معادل** | ۳۰ | ۱۲۱،۲۵۹،۳۲۵ | ۴۶،۵۱۴،۲۸۰ |

له (۱) څخه تر (۳۳) شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د مالي راپورونو اساسي برخه جوړوي.

**نورالله دلاوري**
**د افغانستان بانك لوی رئیس**

**خان افضل هډه وال**
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**احمد منیر نوید**
**لوی مالي آمر**

# اداره او پراختیا



# اداره او پراختیا

**د ټولو ناظر اداره**

د افغانستان بانک د يوويشتمې مادې سره سم، د ټولو ناظر اداري دندې، د افغانستان بانک د احتمالي خطرونو د مخنيوی په موخه د کړنلارو د وضع کولو او خونديتوب ترڅنګ د مناسبو سندونو ساتل او د هغو پر تطبيق باندې ځارنه، د افغانستان بانک د نافذو قوانينو او مقرراتو پر رعايت باندې ځارنې لپاره د افغانستان بانک د اداري او فعاليتونو دوامداره څېړنه، د افغانستان بانک د حسابونو، ريکارډونو او همدا ډول د کړنلارو، د حسابداری د کنټرول او بودجې په هکله د افغانستان بانک عالي شورا ته د راپورونو او مشورو وړاندې کول او څېړل، د افغانستان بانک د مالي صورت حسابونو او نورو اړونده سندونو منظمه څېړنه او رسيدګي او د هغو د سموالي (صحت په صورت کې) د تصديق پاڼې صادرول او د افغانستان بانک د عالي شورا او لوی رئيس د عالي مقام ته راپورونه، وړانديزونه او مشورې ورکړې دي.

د دې تر څنګ د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د

**(۲۳) ګراف د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې د ټولو ناظر اداري د کاري پلان پلي کېدل ښکاره کوي.**




تصميمونو له رغنده اجراء او تطبيق د ټولو ناظر د اداري له دندو څخه شميرل کيږي.

د ټولو ناظر اداره د هېواد په ځينو ولايتونو کې د امنيت د نه شتون، د کارکوونکو د کموالي او له داسې نورو ننګونو سره، وتوانيده څو د ورکړل شويو دندو او خپل کاري پلان سره سم د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د افغانستان بانک له ۷۳ شعبو ( مرکزي شعبې، د مرکز ښاري څانګې، د ولايتونو نمايندګی، د ولايتونو ښاري څانګو او غرفو) څخه ۵۴ شعبې وڅيړي او د افغانستان بانک د شعبو د چارو د لا ودې او د بانک مهمو موخو ته د رسيدو په موخه يې د رياست ټولو ناظر اداري لخوا ټاکل شوي پلاوي د زړو او مندرسو بانکنوټونو د سوځيدو او د پورونو د تر لاسه کولو په موخه د افغانستان بانک د کارکوونکو د جايدادونو د تائيدولو په پروسه کې ګډون کړی دی. د افغانستان بانک د شکايتونو صندوق يې تل په مرکز او ښاري څانګو کې بررسي کړی او د پيرودونکو او کارکوونکو شکايتونو ته پاملرنه کوي.

د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې يې څلور کارکوونکي جذب کړي دي چې ور څخه د بانکداری په ساحه کې د ټولو ناظر اداري اديټورانو د ظرفيت لوړولو، د داخلي

بررسی او د مالي راپور ورکونې په موخه کار اخيستل کيږي.

## د حقوقي مشاوريت دفتر

د افغانستان بانک د حقوقي مشاوريت دفتر د چارو د لا ښه والي په موخه د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې لاندې دندې ترسره کړې دي:

- د بانکدارۍ په قانون کې د تعديلاتو وضع کول او د راتلونکو چارو د ترسره کولو په موخه د عدليې وزارت ته وړاندې کول.
- د افغان اماناتو د بيمې د قانون ترتيبول او د راتلونکو پړاونو اجراء کولو لپاره د عدليې وزارت ته وړاندې کول.
- د بانکدارۍ په دوديزه قانون کې د تعديلاتو وضع کول او د اسلامي بانکدارۍ له قانون سره د بانکدارۍ د دوديزه قانون د مسودې يو ځای کول او عدليې وزارت ته د راتلونکو پړاونو اجراء کولو لپاره د نوموړې مسودې د متن برابرول.
- د توکيو په کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ژمنو په بنسټ د پيسو د تطهير پر وړاندې د مبارزې په قانون او د تروريزم د تمويل پرضد د مبارزې په قانون کې د تعديلاتو وضع کول او د راتلونکو چارو د ترسره کولو په موخه د عدليې وزارت ته د تعديلاتو استول.
- د افغانستان بانک او ماليې وزارت تر منځ د تړون ليک د مسودې نهايي کول په خاصه توګه د افغانستان بانک د پانګې د نوي کولو په برخه کې.
- د عدليې وزارت په همغږۍ د منقولو او غير منقولو اموالو د رهن په قوانينو کې د تعديلاتو وضع کول.
- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۱/۴/۱۵ نېټې د ۲۳ ګڼې تصويب په اساس د افغانستان بانک د کارکوونکو د تقاعد د مقررې منظوري.
- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۱/۱۲/۲۸ نېټې د ۲۲ ګڼې تصويب له مخې د افغانستان بانک کارکوونکو ته د پور ورکړې د مقررې منظوري.
- د افغانستان بانک اړوند نورو کړنلارو، پاليسيو او لوايحو طرح، تعديل او بدلون.

## د ريسک منجمنټ اداره(د مالي خطراتو اداره)

د مالي سيستم د تقويت او ټينګښت او د شوني خطرونو څخه د مخنيوي لپاره يو شمېر ګامونو او تګلارو ته اړتيا ليدل کيږي چې بانکي سيستم بايد هغه وارزوي، اندازه، کنټرول او تحليل يې کړي.

د ۸۰ او ۹۰ لسيزې د مالي کړکيچونو د پېښېدو له امله د نړۍ ټولو هېوادونو په ګډه د نړېوال مالي سيستم پياوړتيا او تقويت لپاره هر اړخيزې هڅې پيل کړې. د توليد سيستمونو، د توليد د تخنيک پرمختګ، د محاسباتي ابزارونو وده او پراختيا، د سرې سر عايد زياتېدنه، د سپماوو زياتېدنه او د قوانينو او مقررو د بدلونونو په برخو کې اقتصادي، صنعتي او تکنالوژيکي بدلونونه د دې لامل شو څو په مالي سيستمونو کې بدلون رامنځته شي چې دا ټول په خپل وار د مالي سيستم د لا پيچلتوب لامل شول، او د مالي سيستم پر دغو پيچلي او ستونزمنو مسايلو باندې د بريالي کېدو او د مالي سيستم د لا خونديتوب په موخه په بانکي ډګر کې د مديريت تګلاره هم بدلون وموندله.

په يوه اداره کې مالي خطرونه د بدلون د لاملونو ترمنځ د اړيکې او پر روان وضعيت باندې د هغوی د اغيزې د شدت له امله د يو موډل تطبيق او طرحې ته اړتيا رامنځته کيږي. د موډل د طرح کولو لپاره هم کولی شو په اقتصادي ډګر کې له شته تګلارو څخه ګټه واخلو. له همدې کبله د خطرونو په برخه کې يو موډل کولی شي د تجزيې او تحليل د حل لارې او امکاناتو د پام وړ اندازه آسانه کړي. نو له همدې امله د مالي خطراتو ډيپارټمنټ هم په بيلابيلو برخو کې د شوني خطرونو د ارزولو لپاره له هغو موډلونو څخه کار اخلي کوم چې له نړېوال معيار سره برابر وي او د بازل د کميټې لخوا پيژندل شوي وي.

دا چې افغانستان د بانکدارۍ په ډګر کې نوې ګام ايښی دی نو څکه پکاره ده څو له هره پلوه په تيره بيا په بانکي سيستم کې د ټولنې د عيني واقعيتونو په پام کې نيولو سره د پرمختللي هېوادونو په پرتله له بيلابيلو تګلارو او ميتودونو څخه کار واخلي ترڅو له يو اړخه په افغانستان کې د بانکدارۍ نوې ډګر پراخ او پياوړی شي او له بل اړخه پر بانکي سيستم باندې زموږ د خلکو ډاډمنتيا زياته شي.

ياد شوي موضوعات دا ايجابوي څو بانکي

سیستم په افغانستان کې د خپلو فعالیتونو په برخه کې د خطرونو مدیریت ته پاملرنه وکړي ترڅو په ټولنه کې یو سالم او ټینګ مالي سیستم تضمین شي.

په بانکي سیستم کې اړتیاوې او پرمختګونه دا ایجابوي څو په ټولنه کې د مالي او پولي سیستم ټیکاو تضمین شي. د مالي خطرونو ډیپارټمنټ د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۸ میلادي کال د جنوری په لومړی نیټه د شتمنیو د خوندیتوب او د احتمالي خطرونو د اداري په موخه د افغانستان بانک په تشکیلاتي اډانه کې جوړ شو. حال دا چې د بانکي سیستم د کړنو ارزونه د خطرونو له پلوه دا ایجابوي څو مسلکي او متخصص اشخاص د مالي خطرونو په ځانګه کې استخدام او تر روزنې لاندې ونیول شي. په لومړیو کې د دې مدیریت ۱۳ کارکوونکي د افغانستان بانک لخوا د مالي خطرونو په برخه کې د اشنایی او وړتیا د زیاتیدو لپاره بهرنیو هیوادونو لکه: ترکیه، هندوستان، مالیزیا او فلپین ته لیږل شوي ؤ. په یاده شوې برخه کې لازمه روزنې او زده کړې له تر لاسه کولو وروسته یې بیرته د مالي خطرونو په مدیریت کې خپلو دندو ته دوام ورکړ. د دې آمریت لومړنی کار د افغانستان بانک د اړوند ډیپارټمنټونو څخه په ازمایښتي توګه پیل شو. له دې وروسته یې د مالي چارو د ځارنې لوی آمریت په همغږۍ د هیواد مالي او بانکي سیستم وارزوه او همدا ډول د اړونده برخو د احتمالي خطرونو د ارزونې او

څیړنې تر څنګ د مجوزو بانکونو د راپور په جوړونه بوخت ؤ. د افغانستان بانک د لاربښوونې له مخې، مجوز بانکونه په خپلو اړوندو ادارو کې د مالي خطرونو د شعبې جوړولو ته اړ شول. د مالي ګواښونو د موډل تطبیقول په بانکي سیستم کې تګلارو او تحلیلونو ته اړتیا لري، چې تمه کیږي په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د مالي خطرونو عمومي آمریت خپل کاري بهیر او فعالیتونه د بانک دننه د یو لړ دنده ایزو بدلونونو وروسته، پیل کړي او هغه خطرونه چې د افغانستان بانک د عملیاتي خطرونو، د بازار خطرونو، د سیالیت او د اسعارو د تبادلې د بیې خطرونو، د اداري او مدیریت خطرونو، د تکنالوژۍ خطرونو، د شهرت خطرونو او داسې نورو له پلوه ګواښوي، وڅیړي او د اغیزناکه تګلارو د تحلیل او ارزولو وروسته او د عملي موډلونو او د هغو معیارونو له تطبیقولو وروسته چې د بازل کمیټې لخوا وړاندې شوي، د کاري ودې لپاره په هره برخه کې وکاروي، ترڅو د افغانستان بانک د مرکزي بانک په توګه د خپلو بنسټیزو او بنیادي دندو چې د بیو ټیکاو، اقتصادي وده، د تادیاتو د بیلانس انډول، اسعاري سیاست او داسې نورو په ترسره کولو سره د پولي سیاست په اډانه کې خپل کاري کیفیت لوړ او فعالانه عمل وکړي.

## د افغان اماناتو د بیمې دفتر (ADIC)

د نورو ادارو په پرتله د دې اداري د اجرااتو طریقه د افغانستان بانک په جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو کې د امانات ایښودونکو د اماناتو د خوندیتوب او ملاتړ لپاره، د هیواد په کچه د بانکي نظام په تاریخ کې په بشپړه توګه یوه نوې طریقه ده. د افغانستان بانک او نور واک لرونکي چارواکو د نوموړې اداري په جوړولو او پرانیستلو سره، امانات ایښودونکو او سوداګریزو بانکونو ته د یو بانک د دیوالي کېدو له امله د احتمالي خطرونو د رامنځ ته کیدو په وخت کې بشپړ حاکمیت او ډاډمنه فضا رامنځ ته کړی او حتی د بانکي سیستم د ثبات او په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د اماناتو د خوندیتوب له امله یې په ټولیزه توګه د دولت اعتماد هم ترلاسه کړی دی.

کوم فعالیتونه چې دغه اداره تر سره کوي او له مخې یې په راتلونکي کې په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د اماناتو د بیا تادیه کولو د ځواب ورکونې مسؤلیت لري، له سوداګریزو بانکونو څخه په ربعوار ډول د حق البیمې راټولول دي چې له مخې یې د دې اداري د قانون په بنسټ، د یو بانک د دیوالي کېدو په وخت کې تاکلې اندازه پیسې د خلکو له اماناتو څخه، امانات ایښودونکو ته ورکول کیږي.

د افغان اماناتو د بیمې اداره ((ADIC د افغانستان بانک د عالي شورا د تصویب له مخې خپله حق البیمه ((Premium د مخکې ټاکل شویو کټګوریو او سلنو په اساس له سوداګریزو بانکونو څخه د ۱۳۸۸ کال له وروستی ربعې څخه تر اوسه وضع کوي.

**۱۱ جدول: د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې د (۱۶) سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه د دې ادارې ((ADIC حساب ته ټولیزه وضع شوې حق البیمه ((Premium ښکاره کوي:**

| پـه ۱۳۹۱مالي کال کې د افغانستان بانک د جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو له اړونده حسابونو څخه وضع شوې حق البیمه(premium) | |
|---|---|
| د کال ربعې | ۱۳۹۱ کال |
| لومړی ربع | ۸۰،۰۸۶،۲۷۹ |
| دویمه ربع | ۸۱،۲۵۹،۶۴۷ |
| دریمه ربه | ۸۵،۷۴۴،۱۲۷ |
| څلورمه ربع | ۹۰،۱۵۸،۹۹۴ |
| د کال مجموعه | ۳۳۷،۲۴۹،۰۴۷ افغانۍ |

د افغان اماناتو د بیمې ادارې د ۱۳۹۱ هجرې لمریز کال په اوږدو کې د حق البیـمې د وضع کېدو له پلوه په ټولیزه توګه د ملیونه افغانۍ په بر کې نیسي. دا اداره توانیدلې ده چې د پورته ژمن شویو پیسو له ډلې څخه د ۷۵۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ په ارزښت د لومړنۍ او

**د افغان اماناتو د بیمې د اداري (ADIC) قانون (مسوده)**

د افغانستان د بانکدارۍ د قانون د (۱) شمېرې

**۱۲ جدول د حق البیمې د راټولیدو سلنه وړاندې کوي:**

**د بیمې د راټولیدو جدول**

| د کمیل ریټینګ درجه | د حق البیمې سلنه |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۳٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۱۸٪ |
| ۴ | ۰.۲۳٪ |
| ۵ | ۰.۲۵٪ |

۳۳۷،۲۴۹،۰۴۷ افغانۍ په ارزښت د شپاړسو سوداګریزو بانکونو له ټاکلي حساب څخه په د افغانستان بانک کې خپلو حسابونو ته راټولې کړې دي.

**د ADIC پیسو د پانګونې څرنګوالی**

د دې ادارې د لومړنۍ او دوراني پانګې مبلغونه د وزیرانو د شورا د ۱۳۸۷/۹/۴ نیټې د ۴۰ ګڼې مصوبې او د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۸۸/۹/۴ نیټې د ۴۳ ګڼې تصویب په اساس او مالیې وزارت سره د افغانستان بانک د توافق له مخې په ټولیزه توګه یو ملیارده او پنځوس دوراني پانګې په نوم له د افغانستان بانک سره خپل حساب ته ولیږدول.

د افغان اماناتو د بیمې اداره، د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې دې ادارې پورې ترلې ټولې پیسې، په بنسټیزه توګه په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د اماناتو تامینولو او ملاتړ په موخه ټولوي او تنظیموي او له همغې څخه ملاتړ کول دی، او له همغه څخه په بهرنیو بانکونو او د افغانستان بانک په بهالرونکو اسنادو کې د پانګونې په توګه ګټه اخلي.

ضمیمه د وزیرانو د شورا او د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۸۷/۹/۴ نیټې د ۴۰ ګڼې مصوبې په اساس ملي شورا ته لیږدول شوې چې تر اوسه د هغه د رد یا تائید په برخه کې کوم عملي ګام پورته شوی نه دی.

**د عامه اعتباراتو ثبت**

د افغانستان بانک د هېواد د بانکي سکتور د یوه تنظیموونکي اداري په توګه تل هڅه کړې ده څو د یو معیاري بانکي سیستم د جوړیدو په موخه لازم اقدامات تر لاس لاندې ونیسي. په همدې موخه د افغانستان

بانک د مالي ټینګښت پروژه له نړیوال بانک سره لاسلیک کړه څو د دې پروژې له اسانتیاوو څخه په ګټې اخیستنې سره په بانکي سکتور کې د احتمالي خطرونو کچه کمه کړي او د افغانستان خلکو ته یو خوندي او د اعتماد وړ بانکي سیستم وړاندې کړي چې یو له دې اقداماتو څخه د عامه اعتباراتو د ثبت د دفتر جوړیدل دي.

نن سبا د مختلفو هېوادونو ډېری مالي اداري د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم په کارولو سره توانیدلي دي چې د پام وړ پرمختګونه ولري، ځکه په لږ وخت کې کولای شي له یو واحد سیستم څخه د پور اخیستونکي په هکله اعتباري معلومات، د تضمین وړ اسناد او نور اعتباري معلومات ترلاسه کړي او د پور په ورکولو سره په پانګونه کې ګټور رول ترسره کړي چې د اقتصادي ودې او د عامه هوساینې لامل شي.

د عامه اعتباراتو ثبت اوس مهال د هېواد په بانکي سکتور کې له خاص اهمیت څخه برخمن دی، ځکه د اعتباراتو ثبت او د منقولو او غیر منقولو اموالو د تضمیناتو ثبت کولای شي د افغانستان بانک څارنیز رول تقویت کړي چې موخه یې د هېواد په مالي نظام کې د پور ورکړې د سیستم د ثبات خوندیتوب دی. د بانکداری د اصولو او د افغانستان بانک د مقرراتو له مخې د دې مدیریت کاري کړنلارې، اړونده مراجعو ته د محرمیت د ساتلو په پام کې نیولو سره د اعتباراتو د ثبت او د منقولو او غیر منقولو اموالو د تضمیناتو د ثبت د مختلفو سیستمونو له لارې د اعتباري راپورونو راټولول، زیرمه کول، څېړل او چمتو کول دي او د پورته یاد شوي ارزښت په پام کې نیولو سره د عامه اعتباراتو د ثبت لوی مدیریت د افغانستان بانک په اداره کې جوړ شوی او لاندې دوه بنسټیزې برخې لري:

۱- د عامه اعتباراتو ثبت ( Public Credit Registry)

۲- د تضمیناتو ثبت ( Collateral Registry)

**د تضمیناتو ثبت ( Collateral Registry)**

د دې اداري د تضمیناتو د ثبت برخه دوه فرعي برخې (د منقولو اموالو د تضمیناتو ثبت او د غیر منقولو اموالو د تضمیناتو ثبت) لري. په بانکي سکتور کې د پرمختللو سیستمونو د رامنځته کولو او پلي کېدلو په موخه، د افغانستان بانک په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن قانون ترتیب او له طې مراحل وروسته د ۱۳۸۸ کال د وري په ۱۸ نېټه په اوو څېرکو او پنځوسو مادو کې د ملي شورا لخوا تصویب شو. دا قانون په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن اړوندو چارو د تنظیمولو او د معاملې د دواړو خواوو(طرفینو) د حقوقو او وجایبو د ټاکلو په موخه وضع شوی دی. د دې قانون بنسټیزې موخې د منقولو اموالو د رهن له لارې د پور او ترونونو تضمینول، د معاملې وړ بانکي اعتباراتو ته د لاسرسی د زمینې برابرول، د سوداګری او اعتباراتو پراختیا، د پانګې اچونې راجلبول او د هېواد د ملي اقتصاد وده ده.

د منقولو اموالو د تضمیناتو د ثبت سیستم بیلابیلې ځانګړتیاوې لري، لکه: په بشپړ الکترونیکي معاصرې تکنالوژۍ سمبالل، د انټرنټ له لارې ټولو لپاره د لاسرسی وړ، د بشپړ اتوماتیک لټون د وړتیا درلودل، ثبت لپاره د اداري پړاوونو د ترسره کولو د اړتیا نشتوالی، ټولو خبرتیاوو لپاره د واحدې کړنلارې کارول او په اتوماتیک ډول د فیس ورکړه.

دا سیستم د ۲۰۱۳ کال د فبروری په ۱۹ نېټه چې د ۱۳۹۱/۱/۲۱ نېټې سره سمون خوري، په رسمي توګه پرانیستل شوی چې له یوې میاشتې ازمایښتي دورې وروسته په ټولو سوداګریزو بانکونو کې لګول شوی دی. د یاد شوي سیستم له پرانیستلو مخکې دې مدیریت د سوداګریزو بانکونو کارکوونکو ته په یاد شوي سیستم کې د دوی د مسلکي ظرفیت او د قانوني اړتیاوو په هکله د پوهې د لوړولو په موخه دوه ښوونیز پروګرامونه جوړ کړي ؤ.

**د عامه اعتباراتو ثبت ( Public Credit Registry)**

د عامه اعتباراتو د ثبت بنسټیزه موخه، د اعتباري معلوماتو د یوه خوندي سیستم جوړول چې د مالي ادارو، سوداګریز بانکونو، مخابراتي شرکتونو او نورو اړونده ادارو له لوري کارول کیږي او دا مؤسسې کولای شي چې د دې سیستم د اسانتیاوو په کارولو سره، د خپلو پیرودونکو د مراجعې په وخت کې د هغوی د سوابقو په هکله خپل د پام وړ معلومات په اسانی سره ومومي.

په دې پاتې نه وي چې د نړیوالې همکاری مالي مؤسسه (IFC) چې د نړیوال بانک یوه برخه ده د نړیوالو معیارونو سره سم د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم په رامنځته کولو کې مالي او تخنیکي همکاري کوي.

## د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انسټیټیوټ

د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انسټیټیوټ د یوې روزنیزې ادارې په توګه په ۲۰۰۹ میلادي کال کې د افغانستان بانک په نوښت او د مالي سکتور د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د ظرفیت د ټیټې کچې په پام کې نیولو سره، پرانیستل شو. دغه انسټیټیوټ د یو بنسټ لیک په اساس د یو غیر انتفاعي ادارې په توګه جوړ او د اقتصاد وزارت لخوا راجستر شوی او د افغانستان بانک، د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د افغانستان د کوچنیو پانګو اچونو د ملاتړ ادارې ګډ ملکیت دی. د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انسټیټیوټ د یو وړ مرکز په توګه په ځانګړې توګه د مالي سکتور د پیاوړي کولو په موخه اړ دی چې د بانکونو او د مالي ادارو کارکوونکو ته مناسبې روزنې برابرې کړي.

د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انسټیټیوټ لید لوری، په افغانستان او د سیمې په اړه د مالي چارو د روزلو او څېړلو د یو غوره مرکز جوړول دي او د بانکدارۍ او مالي چارو د څېړنې او روزنې د اصلي مټ په توګه عمل کوي او په دوامداره توګه د هغو لویو مدیرانو زده کړې او وړتیاوې لوړوي کوم چې د اطلاعاتو او معلوماتو او د بانکدارۍ سکتور په نوي مسایلو کې کار کوي او د دې ترڅنګ د مالي ادارو لپاره د مشوره ورکولو خدمتونه وړاندې کوي.

له همدې کبله دغه انسټیټیوټ خپله دنده ګڼي چې کار زده کړې ډله د مالي سکتور او د هغه اړوند بیخبنسټ د تقویت په موخه د بانکونو او مالي ادارو لپاره د لنډ او اوږد مهاله روزنو د برابرولو له لارې وروزي، چې په افغانستان کې د پراخ ملاتړ او اقتصادي پرمختیا لامل کیږي. انسټیټیوټ په هېواد کې د مالي سکتور او عملي تجربې د کره پیژندنې په مرسته، غواړي چې په نږدې راتلونکي کې د عملي کار د څېړنې مرکز شي چې په عامه او خصوصي سکتور کې د تصمیم نیوونکو په ګټه دی.

د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انسټیټیوټ (AIBF) د خپلې دندې په اوږدو کې چې د افغانستان د مالي سکتور(بانکونو او مالي ادارو) د انساني ظرفیت پراختیا ده، هر اړخیزې هلې ځلې او کوښښونه کړي دي چې د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې یې لاندې لاسته راوړنې درلودلې دي.

**۲۴ ګراف: د هغو محصلینو شمېر ښکاره کوي چې د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې روزل شوي دي:**



**۲۵ گراف: د هغو بانکونو او مالي ادارو د کارکوونکو شمېر ښکاره کوي چې د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې روزل شوي دي:**

**د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې د بانکونو او مالي ادارو کارکوونکي په لاندې ډول د هر بانک او مالي ادارې په اساس روزل شوي دي**






## د ۱۳۹۱ کال جوړ شوي کورسونه

| شمېره | Name of the course | د کورس نوم |
|---|---|---|
| ۱ | Agriculture Insurance | د کرنې بیمه |
| ۲ | Anti-Money Laundering | د پیسو د قاچاق پر ضد مبارزه |
| ۳ | Asset and Liability Management | د شتمنیو او بدهی مدیریت |
| ۴ | Banking Financial Reporting | د بانکداری د چارو مالي راپور |
| ۵ | Banking Law and Regulations | بانکداری قانون او مقررې |
| ۶ | Basel II Supervisory | د دریم بازل د څارنې برخه (اداره) |
| ۷ | Basic Management | لومړنی – بنسټیز مدیریت |
| ۸ | Branch Admin and HR Management | د څانگې د اداري او بشري منابعو مدیریت |
| ۹ | Branch Management | د څانگې (نمایندگی) مدیریت |
| ۱۰ | CCR | |
| ۱۱ | Challenges of Cash Officers | د نغدو پیسو د کارکوونکو ننگونې |
| ۱۲ | Corporate Governance | گډه حکومتداري |
| ۱۳ | Credit | کریډټ |
| ۱۴ | Credit Risk Management | د کریډټ(اعتباراتو) د ریسک مدیریت |
| ۱۵ | CRM | |
| ۱۶ | Delegation and Supervision | استازي او څارنه |
| ۱۷ | Effective Communications | اغیزمنه اړیکې |
| ۱۸ | Effective Leadership | اغیزمنه رهبري |
| ۱۹ | Financial Management | د مالي چارو مدیریت |
| ۲۰ | Fundamentals of Microfinance | د کوچنیو پورونو د ورکړې بنسټونه (اساسات) |
| ۲۱ | General Banking | عمومي بانکداري |
| ۲۲ | HD Forum | د اچ ډي ټولنه |
| ۲۳ | Human Resource Management | د بشري منابعو مدیریت |
| ۲۴ | Internal Audit Focus Fraud | د داخلي تفتیش د درغلی فوکس |
| ۲۵ | Internal Control and Audit | داخلي تفتیش او کنټرول |
| ۲۶ | International Trade Finance | د نړیوالې سوداگری مالي چارې |
| ۲۷ | Islamic Finance | اسلامي پانگونه |
| ۲۸ | IT Audit | د معلوماتي تکنالوژی تفتیش |
| ۲۹ | Leasing | اجاره کول |
| ۳۰ | Loan Portfolio Management | د پور د سندونو مدیریت |
| ۳۱ | Managing Change | د مدیریت بدلون |
| ۳۲ | Marketing of Financial Services | د مالي خدمتونو بازار موندنه(مارکیټنگ) |
| ۳۳ | New Product Development | د نوي تولید پراختیا (انکشاف) |
| ۳۴ | Non-Performing Loan | نا اجراء شوی پور |
| ۳۵ | Operational Risk Management | د عملیاتي ریسک مدیریت |
| ۳۶ | Operational Planning and Budgeting | د عملیاتو لپاره پلان جوړونه او د بودجې ټاکنه |
| ۳۷ | Practical SWIFT | د سویفت عملي برخه |
| ۳۸ | Quality Customer Service | د پیرودونکو با کیفیته خدمتونه |
| ۳۹ | Ratio Analysis | د نسبت تحلیل |
| ۴۰ | Remittances / Clearing | د پیسو(تادیاتو) د لیږدونې تصفیه کول |
| ۴۱ | Retaining Top Employees | د لوړو کارکوونکو په څار کې ساتل یا حفظول |
| ۴۲ | Risk Management | د ریسک مدیریت |
| ۴۳ | Time Management | د وخت مدیریت |
| ۴۴ | Using and Analyzing Financial Statements | د مالي صورت حسابونو کارول او څېړل |

د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انستیټیوټ، ټولو مالي مؤسسو (بانکونو او مالي ادارو) سره په نږدې اړیکه کې دی او د هغوی د غوښتنو په بنسټ لنډ مهاله او اوږد مهاله روزنیز کورسونه جوړوي. د یادونې وړ دی هغه ښوونیز کورسونه چې د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو د انستیټیوټ لخوا برابریږي، د بانکونو او مالي ادارو د غوښتونو په پام کې نیولو سره په انګلیسي ژبه او یا هم په دري ژبه تدریس کیږي. د انستیټیوټ روزنیزه ډله له وړ او با تجربه افغاني او بهرني استاذانو څخه جوړ شوی دی. د لا اسانتیا په موخه، د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انستیټیوټ هر کال د خپل روزنیز کلنی پلان چمتو او د بانکونو او مالي ادارو په واک کې ږدی څو هغوی د دې وړ وګرځوي چې منظم، کره او د وړاند وینې وړ پلان جوړ کړي. سربېره پر دې د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو انستیټیوټ د بانکونو او ادارو د غوښتنو پر اساس بېلابیل روزنیزې پروژې پلي کوي. د بېلګې په توګه په ۱۳۹۱ کال کې دې انستیټیوټ د IIFC مؤسسې کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړولو لپاره یوه روزنیزه پروژه پلي کړه چې په ترڅ کې یې اته روزنیز پروګرامونه د کابل او مزار شریف ولایتونو کې په لار واچوه او د IIFC (۳۹۴) کارکوونکو یې په لاندې برخو کې وروزل.

**۲۶ ګرف:**




## معلوماتي ټکنالوژي:

د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی مدیریت له ترتیب شوي پلان سره سم په ۱۳۹۱ کال کې لاندینی دندې ترسره کړي دي:

- د افغانستان بانک په نمایندګیو او ښاري څانګو کې د افغان تیلکام د نوري فایبر شبکې او د سي بي اس بانکي سیستم لګول چې له هغې ډلې یې اووه ښاري څانګې په کابل او ۱۱ نوري نمایندګۍ د افغانستان په مختلفو ساحو کې له مرکز سره نښلولي دي.
- د سي بي اس په سیستم (د بانکي معاملو په سیستم) کې د ښه فعالیت د چټکه عمل په موخه په ټولو ښاري څانګو او د ولایتونو په نمایندګیو کې یو بل بک اپ کنکشن فعال کړې او د ګټې اخیستنې وړ دی، که چېرې د افغان تیلکام له نوري فایبر شبکې سره کومه ستونزه پیدا کیږي، نو له خپل بک اپ کنکشن څخه په چټکۍ سره ګټه پورته کولای شو.
- د ټکنالوژۍ په برخه کې د ګرندیو بدلونونو په درک کولو سره د یو نوي پوستکالي (نرم افزار) پیرودل MS SQL Server 2012 چې دا پوستکالی(نرم افزار) د مایکروسافټ له شرکت څخه د ورمتي کمپنی په همکارۍ پیرودل شوی او د افغانستان بانک په مرکز او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په دوو خوندي ځایونو کې او همدا ډول د دبی په متحده اماراتو کې DR site Dubai & ANDC لګول کیږي څو دا ډیپارټمنټ په راتلونکي کې د ټکنالوژۍ له پلوه کومې ستونزې یا ننګونې سره مخ نشي.
- د دوو مهمو سرورونو Websense او Cache Server فعالول چې له ډېرې مودې راهیسې غیر فعال ول، څو د افغانستان بانک داخلي شبکه لا خوندي او مصؤنه شي او د غیر مجاز ویب پاڼو فلتر کیدل او یا هغه سایټونه چې شبکې ته زیان رسوي، بلاک شي.

- د سرور روم د فزيکي خونديتوب لپاره، زرهي دروازه چې په الکترونيکي قفل سنبال دی، لګول شوی دی، چې سرور روم ته تړول تګ او راتګ په هغه کې ثبتيږي.

- د امنيتي کمرو لګول چې له پرمختللي سيستم او ښه کيفيت څخه برخمن دي.

- د سي بي اس په سرورونو کې د ۲۰۰۸/۲۰۱۲ Server لګول، چې د پرمختللي تکنالوژۍ د يو شان کېدو او د لا خونديتوب په موخه وتوانيده چې د سي بي اس د سرورونو د سيستم اپريټنګ له ۲۰۰۳ څخه ۲۰۰۸ او ۲۰۱۲ ته لوړ کړي.

- د دې مديريت د پوستکالي (نرم افزار) برخه هم يو له مهمو برخو څخه ده چې اداره، کنټرول د ورځني ستونزو حل، د افغانستان بانک د ډيپارټمنټونو د غوښتنليک او تقاضا په اساس د ډيټابيس يا د بېلا بيلو سيستمونو جوړول، د افغانسان بانک په ټولو ډيټابيسونو او اپليکيشنونو کې له دې لارې ترسره کيږي.

- د ورمتي کمپنی له لارې د نوي پچونو عملي کول او نور مهم او اړين بدلونونه هم د دې برخې له مسؤوليتونو څخه ګڼل کيږي.

- د FTP د معلوماتو (DATA)) د لا خونديتوب او ساتنې لپاره سرروه د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې د سرور برخې لپاره کارکوونکی ګمارل شوی چې د افغانستان بانک د مرکزي دفترونو د کارکوونکو د معلوماتو (Data) او د افغانستان بانک د مهمو سرورونو ټول بک اپونه په کې خوندي ساتل کيږي.

## بشري منابع

د بشري منابع لوی آمريت د ورسپارل شويو دندو مطابق د کارکوونکو د ظرفيت د لوړولو په موخه د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې لاندې کارونه ترسره کړي دي:

- د بيلا بيلو پُستونو له نوماندانو څخه شاوخوا ۲۰ ليکلي ازمويني او ۳۰ مخامخ مرکې ترسره شوي چې د عامل پلاوي د بيلو تصويبونو او حکمونو په پايله کې له درې سوه او شل زيات نوي کارکوونکي ګمارل شوي او په مختلفو برخو کې يې رسماً په کار پيل کړی دی.

- ۳۷ کارکوونکي په مختلفو دليلونو د افغانستان بانک له بست څخه ګوښه(منفک) شوي او کابو ۱۱۰ تنه له يوې برخې څخه بلې برخې ته تبديل شوي دي.

- د افغانستان بانک د ټولو برخو نوي تشکيلاتي چارټونه بيا کتل شوي او په هغه کې لازمه تعديلات راغلي دي چې په دې برخه کې د عامل پلاوي منظوري هم اخيستل شوې او اړونده شعبو ته ابلاغ شوې ده.

د پلان او پاليسي د پراختيا معاونيت په مسلکي، علمي او تخصصي توګه، د هېواد د نافذو قوانينو او د افغانستان بانک د قانون په پام کې نيولو سره، د بشري منابع دولس جلده پاليسی، مقررې، بنسټ ليکونه او کړنلارې چې لاندې ذکر شوي دي، ترتيب کړي دي:

- د کارکوونکو د حقونو او امتيازاتو لايحه او کړنلاره
- د کارکوونکو د مکافاتو لايحه او کړنلاره (پروسيجر)
- د اصلاحي او انضباطي اقداماتو پاليسي او کړنلاره
- د محصلينو د پرکټيکي دورې پاليسي
- د بشري منابع د داخلي اړيکو، بدلونونو او تبديلونو پاليسي
- د کار د وخت، د استراحت د حق او رخصتيو مقرره
- د استخدام د پروسې د مرکې لارښود
- د جلسې لارښود
- د کارکوونکو د رضايت د سروې فورم
- د کارکوونکو د اصولو او د سلوک د څرنګوالی ژمن ليک
- د بشري منابع د پاليسيو، اصولو او مقرراتو پر تطبيق د کميټې بنسټ ليک

- د بشري منابع د پالیسیو او مقررو د مسودو د ترتیب د څرنګوالي سند
- په ۱۳۹۱ کال کې د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره زده کړې
- په ۱۸ روزنیزو برنامو کې ۲۸۶ تنو ته د ګډون کولو د زمینې برابرول:

- په ۴ برنامو کې ۷۵ تنو ته روزولو زمینه برابرول
- د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د لیسانس برنامې ته د ۱۰ تنو کارکوونکي ورپیژندل
- په پیشګام پوهنتون کې ۲۱ تنه کارکوونکو لپاره د لیسانس برنامه
- د افغانستان په بانکدارۍ انستیتوت کې ۲۳ تنه کارکوونکو لپاره د بانکدارۍ روزنیزه برنامه
- د پوهنتونونو او انستیټیوټونو محصلینو لپاره عملي پروګرامونه

## خدمات

### خدمات او تعمیرات

د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې د خدماتو د لوی مدیریت د تعمیراتو برخې د نهر درسن د ودانۍ ترمیمول او بیا رغول، د مراد خانی په څمکه کې د نوي کمپلکس پروګرامینګ، د سرپل، پکتیکا، دایکندي، غور، بادغیس او نیمروز بانکونو، د شمال ختیځ زون سیمه ایز دفتر (کندز) او د ختیځ زون د ودانیو د ساختماني کارونو بشپړول، د جنوب غرب زون (قندهار)، د سپین بولدک نمایندګی ته او د هغې د احاطو لپاره د ځمکې پیرودل، د شیر خان بندر نمایندګی لپاره د ځمکې پیرودل او د هغه د احاطې ترمیمول او رنګول، د زون لودیځ ( هرات) لپاره د پیسو د سوځولو کوري او سیوري جوړول، د مرکز د شعبو او دفترونو ترمیمول او د میمنې د بانکونو د ودانیو ترمیمول او رنګول او د خوست د بانک ودانۍ ترمیمول او د خاه کیندل، د ګردیز زون د میلمستون او د احاطې د دیوال رغول، د شمال زون د ودانیو کانکریټول، د لوګر د نمایندګی بیا رغول او داسې نور ترمیمات، رنګمالي او بیا رغونې یې د یو منظمه برنامې له مخې تر سره کړې دي.

### روغتیایي کلینیک

د افغانستان بانک روغتیایي کلینیک د کال له پیل څخه تر اوسه پورې۴،۷۸۷ تنه د مرکز او اړونده ښاري څانګو کارکوونکي او د هغوي د کورنی غړي معاینه، درمل او پانسمان کړي دي او په دې برخه کې یې (۲۴۸) قلمه بېلا بېل درمل د ۷۶۱،۴۰۸ افغانیو تولیز قیمت سره او د روغتیایي کلینیک د اړتیا وړ یو شمېر طبي سامان الات چې ټولیزه قیمت یې -/۱۵،۴۴۵ افغانۍ کیږي، د مرکزي بانک د ناروغه کارکوونکو درمل لپاره پیرودلي دي.

له همدې امله تر اوسه پورې د مصرف شویو درملونو ټولیز قیمت -/ ۷۷۶،۸۵۳ افغانۍ کیږي او د یادونې وړ ده چې په مصرف شوي مبلغ کې یوه اندازه درمل د ۱۳۹۰ کال څخه هم پاتې دي:

۱- د ناروغانو شمېر ۴،۷۸۷ تنه

۲- د پیرودل شوي درمل اندازه ۲۴۸ قلمه

۳- د پیرودل شوي درمل قیمت ۷۶۱،۴۰۸ افغانۍ

۴- د طبي سامان ا لاتو قیمت ۱۵،۴۴۵ افغانۍ

**د مصرف شویو درملو ټولیز قیمت ۷۷۶،۸۵۳ افغانۍ**



محفل تجلیل از هشتم مارچ روز جهانی زن



جریان کنفرانس چلند بانکنوت های ۲،۱ و ۵ افغانیگی



جریان جلسه شورای عالی مورخ ۱۳۹۱/۳/۳




میزد گرد " بانکداری در افغانستان در یک دهه و دورنمای آن



در حاشیۀ جلسه شورای عالی ۱۳۹۱/۱۲/۲۸



مصاحبه محترم نور الله دلاوری رییس کُل د افغانستان بانک با تلویزیون نگاه



کنفرانس مطبوعاتی در مورد حصول قروض کابلبانک



کنفرانس تحویلدهی تحایف اهدا شده به
جلالتماب رییس جمهور افغانستان به د افغانستان بانک



محفل افتتاح ثبت اعتبارات عامه



جریان ورکشاپ ثبت اعتبارات عامه



جریان افتتاح تعمیر جدید دفبانک سرپل



محفل معرفی دو تن از اعضای شورای عالی د افغانستان بانک



جریان حریق بانکنوت های مندرس زون شمال



محفل تجلیل از روز جهانی کودک



جریان تریشل بانکنوت های مندرس



محفل تهداب گذاری تعمیر زون شمال شرق










د افغانستان بانک

# کلنی
# سالانه راپور

## ۱۳۹۱

**راپور سالانه د افغانستان بانک**


آمریت عمومی اسناد و ارتباط

مدیریت نشرات

تهیه کننده: عبداللطیف بایانی

ایدیتر: شفیق الله بارز و یما عفیف

عکس: زیرک ملیا

دیزاین: خالد احمد فیضی



